


کرستین لنگه و ریتا اشتوکهاو

مترجم:
ابراهیم هوتک


# د افغانستان اقتصادی پرمختک

لنده کتنه،
وضعیت
او نظریات


FRIEDRICH
EBERT
STIFTUNG

**معرفی کتاب**

| | |
|---|---|
| نام کتاب : | رشد و انکشاف اقتصادی افغانستان |
| نویسنده: | کرستین لنگه و ریتا اشتوکهاو |
| مترجم: | ابراهیم هوتک |
| صفحه آرائی : | طارق اقتداری |
| ناشر : | بنیاد فریدریش ایبرت دفتر افغانستان |
| چاپ : | انتشارات برگ |
| تیراژ : | 1000 نسخه |

کابل افغانستان

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

# د افغانستان اقتصادی پرمختګ ـ لنډه کتنه، وضعیت او نظریات

## خلاصه

افغانستان د روسانو له یرغل او وروسته بیا د کورنیو جګړو څخه د مخې هم له اقتصادي او بشري پلوه یو له کمزورو هیوادونو له ډلې څخه شمیرل کیده . دیرش کلنې جګړې بیا دا هیواد نور هم پسې ویجاړ کړ. خو د طالبانو د رژیم له راپرزیدو وروسته (۲۰۰۱م) [1]، د نړیوالي ټولنې د مرستی او همکاری ته په پاملرنی سره، د افغانستان په اقتصادي، ټولنیز، کلتوری ... چارو کښې پرمختګ را منځته شو. خو بیا هم، افغانستان د ۲۷ ملیاردو امریکایي ډالرو د ملي ناخالصه عاید (د ۲۰۱۰ کال د احصایې په مطابق) په لرلو سره، چې بهرنې مرستې یی هم له ځانه سره لرودې، د نړۍ له وروسته پاتې هیوادونو څخه شمیرل کیږی. څو لسیزو شخړ او جګړود دې هیواد اقتصادي بنسټونه او نظام په پوره توګه له منځه وړی چې د بیارغاونې په لاره کې یې خورا خنډونه او ستونزې رامنځ ته کړی دي. د افغانستان پرمختیا ته باید له دواړخونو وکتل شي . سره له دې چې ددې هیواد د اقتصادي پراختیا او انکشاف لپاره زیات کوښښ شوې دې، خو بیا هم یې لږ اندیښتې په ددې پرمختګ ددوام او ثبات په هکله رامنح ته شوي دي ، پهد ي چې د غع پرمختګ تر ډیره حده د بهرنیو هیوادونو په مرستو ت سره شوي دي. د نړیوال بانک د احصایې له مخې ، په کال ۲۰۱۱ کې به ددې هیواد ۹۷ په سلو کښې اقتصادي لاسته راوړني د بهرنیو هیوادونو د نظامي او ټولنیز شتون سره په تړاو کې و ي [2].

ولي کوم شي چې مثبت او د یادونې وړ دي ، دا دې چې د خلکو کلنې عاید د ۲۰۰۱ کال نه تر ۲۰۱۱ کال پورې له ۲۶۲ امریکایی ډالرو نه ۱۰۰۰ امریکایي ډالرو ته اوچت شوې دی. [3] . تر ټولو زیات پرمختګ په ساختماني ، ترانسپورتې او لوژستیکي برخو کې شوې دی.[4] .

خو بیاهم دغه پرمختګ ډیرې پوښتنې رامنځته کړي دي، ځکه چې زیاته برخه یې د بهرنیو قراردادونو چې په دې برخه کې تړل شوي دي، مرسته تمویل شوي دي. باید دا هم وویل شي چې په نورو اقتصادي برخو کې هم خورا ډیر پرمختیګ شوې دی ، په تیره بیا د ټولنیزو آسانتیاوو په برابرلو کې . د بیلګې په توګه کولي شو نن سبا په افغانستان کښې د مخابراتې ، بانکي او مالیاتي سیستمونو څخه یاد کړو . نوي سوداګریز تړونونه او همدارنګه د ګاونډیو هیوادونو لکه پاکستان، تاجکستان او ازبکستان سره د اړیکو بیارغاونې، د بنسټ جوړونې او ترانسپورت په برخه کې ددې هیواد د سوداګرې د پرمختیا لامل شوي.

1 Economy Watch: http://www.economywatch.com/economic-statistics/country/Afghanistan/
2 Gregg Carlstrom, June 2011: 'Economic Depression' looms in Afghanistan, http://english.aljazeera.net/news/asia/2011/06/20116812933228775.html
3 World Bank: http://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.CD AND www.ers.usda.gov/data/.../Data/HistoricalRealPerCapitaIncomeValues.xls
4 Stefanie Nijssen, 2010: Special Report on Economic Development in Afghanistan, The Afghan Economy: A Brief History, Seite 5

د افغانستان دولت اوس په دې هڅه کې دی، تر څو وشي کولای چې نړیوال سوداګریز سازمان (World Trade Organization, WTO) ته لاره پیدا کړي. د افغانستان دولت دملي پراختیایي استراتیژۍ (Afghan National Development Strategy, ANDS) د لاربښووني سره سم د کورني سوداګرو ملاتړ کوي. له همدې کبله په ۲۰۰۳ میلادي کال په افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره رامنځته شوه. نوموړې اداره نه یوازې چې د راتلونکي سوداګرانو او پانګه اچوونکو ملاتړ کوي، بلکه سوداګرو ته د مشورې ورکولو په خوا کې تجارتي شرکتونو د ثبتولو او راجستر کولو په برخه کې آسانتیاوې برابروي. مالیاتي سیستم خورا زیاد پرمختګ کړې دی. د بیلګې په توګه د سوداګریزو شرکتونو ثبتول او همدارنګه د جوازنامې لاسته راوړل د تجارتي فعالیتونو د پیل کولو په موخه زیاتې آسانتیاوې رامنځته شوې دي. د اموالو او کالیو صادرول هم آسانه شوي دي. د ګمرکي مالیاتو کچه په منطقه کې بې ساري ده ، کوم چې ددې لامل شوي ،تر څو بهرني تولیدي توکي په ډیره ارزانه بیه مارکیټ ته رادننه شي او افغاني تولیدات پرته له خرڅلاوه د اقتصادي بازاره ووځي. د دولت له ټولو دغو هڅو سره سره بیا هم د افغانستان د پانګې اچونې نظام د تل په شان کمزوري او خرابه ارزیابې کیږي٠ په یو حقوقي نظام کې چې د درې بیلابیلو حقوقي سیستمونو څخه رامنځته شوې وي، د سوداګرو او پانګه اچوونکو د حقوقو ملاتړ او خوندي توب به یو ستونزمن کار وي. خرابې او نا امنه مواصلاتي لارې هم د بهرني تجرات هم له ستونزو سره مخامخ کړي٠ له بلې خوا د هیواد امنیتي حالات د ډیرو بهرنیو پانګه اچوونکو دپاره نا امنه ګڼل کیږي [5] او امنیتي حالات په پراخه توګه بې ثباته بولي. همدرانګه افغانستان له یوې خورا کمزورې او لګې کاري قوا څخه برخمن دی، ځکه چې دی هیواد ته د ښوونې او روزنې، په ځانګړې توګه د مسلکي زده کړو په برخه کښې ډیره لګه پاملرنه شوې. [6]

له همدې کبله، د نړیوال بانک د مالوماتو سره سم، افغانستان د پانګې اچونې په برخه کښې، د آسیا یو له ضعیفو او کمزورو هیوادونو څخه شمیرل کیږي. [7]

صنعت ډیر زیاد ضعیف پرمختګ کوی. هغه دولتی تولیدي فابریکې چې په اویایمه لسیزه کې جوړې شوی وی، اوس یا له منځه تللي، یا ډیرې زړې دی او یا هم په ډیره ټیټه کچه باندې تولید او رقاّبت کولی شی. ډیر کم بهرني پانګه اچوونکي په افغانستان کښې پانګه اچونې ته زړه ښه کوي. عنعنوي ټولنیز خدمات لکه تجارت او لاسي صنایع نشي کولای چې د افغانستان دغه صنعتي لویه تشه ډکه کړي.

کرهڼه یوازی هغه سکتور دی چې ددې هیواد د اقتصاد یوه لویه برخه برابروي. تر اوسه هم د ملي ناخالص عاید ۳۰ په سلو کې د کرهڼې له لیارې تمولیږي. باید وویل شي چې دغه اقتصادي ځانګه هم د موسمي تأثیراتو او همدارنګه د طبیعي آفاتو لکه زلزلې او سیلابونو څخه بی برخې نه پاتې کیږي.

افغانستان د ډیرو معدني او طبیعی منابعو په لرلو سره، په دې برخه کې، څرنګه چې باید شوې وه، هغسې پرمختګ نه دی کړي. د خرابو مواصلاتي لارو، د بنسټیزو منابعو نه شتون او همدارنګه بی امنیتي له هغو عمده لاملونو څخه دي چې ددې سکتور په بیارغاونې کې خنډ ګرځیدلي دي. د افغانستان دولت په دې هیله دې چې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې به له دې لیارې ۱۵۰ میلونه دالر عاید لاسته راوړي. او په پنځلسو راتلونکي کلونو کښې به یې عاید ۵،۳ ملیارده امریکایي ډالرو ته ورسیږي.

البته په دې برخه کې هم کم پرمختګ شوې دې چې عوامل یې زیات دي، لکه اداري فساد، رشوت او داسې نوراو له بلې خوا دغه پرمختګ یوازې په ښارونو کښې شوې . ددې تر څنګه انفلاسیون یو بل له هغو ستونزو څخه دی چې پوهان او ددې برخې متخصصین یی خورا اندیښمن کړي دي. ځکه ددې هیواد د پیسو ثبات او ټینګښت د بهرنیو پیسو په ذریعه ولاړ دی.

مرسته کوونکي هیوادونه اوس په دې هڅه کښې دي، چې خپله ستراتیژي د افغانستان د اقتصادي پرمختیا لپاره تجدید نظر کړي. څرنګه چې یو امریکایی څیړنیز مرکز دا ګواښ ورکوي چې هغه پیسې چې په دې موخه باید لګول شوی وی. زیاته برخه یی د اداري فساد په ملاتړ کې مصرف شوې او د یو سالم اقتصادي پرمختیا مخ نیوي یې کړي دي ، په تېره بیا وروسته له چې په ۲۰۱۴ کال کې بهرنی ځواکونه ددې وطن څخه ووځي [8]. خو بیا هم دغه هیواد، که څه هم دولت ته نه ، ډیرې مرستې تر سره شوي د ي. لکه څنګه چې اروپایي ټولنې همدا اوس د ۶۰۰ ملیونو امریکایی ډالرو ژمنه ۲۰۱٤ کال پورې یعنې د بهرنیو قواو د بشپړه وتلو اود مسؤلیت سپارلو پورې کړې ده. [9]

د یوه با ثباته اقتصاد د لرلو لپاره ، پوره ( بس ) نه د چې نړیواله ټولنه د دې درک وکړي او پوهه شوې، چې یوازې پیسې نشي کولای پرمختګ منځته راوړي. په نړیواله کچه اوس مهال دا موضوع تر بحث لاندې ده، چې آیا د ( وریښمو د لارې بیا رغوول [10] ) به دغې ستونزې ته د پاې ټکي کیږدي او که نه؟ نړیواله ټولنه اوس په دې سره یو دي، چې شویو مرستو ته باید یو ځل بیا کتنه وشي. خو آیا داچې افغانستان به وشي کولای وروسته له دې د یوه اقتصادي او سوداګریز میدان یا بازار په حیث د اروپایی او آسیایي کالیو او اموالو د لیږد را لیږد ډګر وګرځي، دا هغه موضوع ده چې اوس یې وړاندوینه نشي کیدای.

له همدې کبله ښه به دا وي چې، تر څو له خپله افغانانو څخه د اقتصادي پر مختګ او ستراتیژي د سمون لپاره پوښتنه وشي ، ځوان نسل ته د ښوونې او روزنې په برخه کښې ډیره پاملرنه وشي تر څو وشي کولاې، په راتلونکي کې د هیواد اداره خپل په واک کې ونیسي او نور د نړیوالو سازمانونو ته په دې برخه کې اړ نشي. او داسې وخت راشي، چې هغوي په خپله د مختلفو پروژو او سازمانونو مشرتوب ، مدیریت او رهبري په لاس کې واخلې.

5 http://www.tolonews.com/en/afghanistan/3109-insecurity-hurdles-investment-in-afghanistan-eu-commissioner-

6 Afghan Skills Development Project (ASDP), 2008: Technical Proposal, Vocational Education and Training in Afghanistan: An Overview,Seite1

7 South Asian Microfinance Network: http://www.samn.eu/index.php?q=economic-afghanistan

8 Evaluating US Foreign assistance to Afghanistan, 2011, Seite 8, http://www.gpoaccess.gov/congress/index.html


9 Outlook Afghanistan, July 18th 2011: EU pledges 600 m $ in id to Afghanistan, Titelseite & Seite 8

10 “The key to Success in Afghanistan”, S. Frederick Starr, 2010

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ، لنډه کتنه، وضعیت او راتلونکي

**خلاصه**


افغانستان د ۲۷ ملیاردو امریکایي ډالرو د ملي ناخالصه عاید (د ۲۰۱۰ کال د احصاییې په مطابق)[1] په لرلو سره، چې بهرني مرستې یې هم له خانه سره لرودی، د نړی له پاتې شویو هیوادونو څخه شمیرل کیږی. څو لسیزو شخړې د دې هیواد اقتصادي بنسټونه او نظام یې په پوره توګه له منځه وړی چې د بیارغاوني په لاره کې یې خورا خنډونه او ستونزې رامنځته کړی دي.
کرهڼه یا زراعت یوازینی هغه سکتور دی چې ددې هیواد د اقتصاد یوه لویه برخه برابروي. تر اوسه هم د ملي ناخالص عاید ۳۰ په سلو کې د کرهنې له لیارې تمولیږي. باید وویل شي چې دغه اقتصادي څانګه هم د موسمي تأثیراتو او همدارنګه د طبیعي آفاتو لکه زلزلې او سیلابونو څخه بې برخې نه پاتې او زیانمنه شوي.
صنعت ډېر ورو پرمختګ کوي . هغه ډېرې کمې دولتي فابریکې چې په اویاوومه لسیزه کې جوړې شوې وې ،تر ډېره حده ویجاړې یا هم خرابې او یا هم نه د تولید او نه د سیالي توان لري . ډېرلږ بهرني پانګه اچوونکي دي ته حاضر دي چې په دې نا امنه شرایطو کې په افغنستان کې پانګه اچونه وکړي . ډودیز تجرات اولاسي صنایع ددې توان نه لري چې د افغانستان د صنعتي سکتور لویه تشه ډکه کړي
.
د افغانستان حکومت اوس په دې هڅه کې دی، تر څو وشي کولای چې نړیوال سوداګریز سازمان (World Trade Organization, WTO) ته لاره پیدا کړي او غړیتوب یې تې لاسه کړي. سربیره پر دې دولت د پانګه اچوونکو د ملاتړ او جلب لپاره نوي تصامیم هم نویلي د ي.
د مالي اخستلو او ورکولو په سیستم کې تر ډېره حده اسانتیا رامنځ ته شو ي. د شرکتونود ثبت ار راجستر کارونه اوپروسه اسانه او ګړندي شو ي. د مالونو یا تجارتي توکو صادرول هم اسانه شو ي. ګمرکي محصولات د منطقي پهکچه تر ټولو ډېر ټیت دي ، څه شي چې ددې لامل ګرځیدلي چې ارزانه اموال او توکي له بهر څخه وارد شي او په د ي ترتیب افغاني اموال له مارکیټ یا بازار څخه ووځي.
هغه څه چې باید په مثبته توګه ارزیابی شي، دادي چې، د افغانستان سرانه ملي عاید په کال ۲۰۰۹ کې ۲۲ په سلو کې زیاتوالی موندلی دی. خو بیا هم دغه شمیرنېدرراتلونکو کلونو لپاره په تخمیني ډول غوره شوی دی.
لومړی شمیره ګراف:په سرانه ملي عاید کې زیاتوالی له کال ۲۰۰۳ راهیسي، په فیصدي باندی


منبع:
**Economy Watch: http://www.economywatch.com/economicstatistics/Afghanistan/GDP_Growth_Constant_Prices_National_Currency/**

دغه ګړندي اقتصادي پرمختګ ددې ښودونکي دې، چې افغانستان تجارتي مارکیټ ته د بدلیدو په لاره کې خورا ښه پرمختګ کړی دی.
اوس دا پوښتنه را منځته کیږي، چې ددغه پرمختګ لپاره کوم مؤثق لاملونه او دلایل شتون لري؟ او تر کومې کچې پورې به نوموړی پرمختګ دوام ولري؟
دغه لنډه سروې باید دا په ډاګه کړ ي چې د افغانستان اقتصاد له 2001 کال نه را په د ي خوا په کومو سکتورونو کې څنګه پرمختګ کړي ، کومې صنعتي څانګو نن ډېره وده کړي او د ودې امکانات لري او په راتلونکي دافغانستان اقتصاد څومره ظرفیت لري.

---
[1]Economy Watch: http://www.economywatch.com/economic-statistics/country/Afghanistan/

## د افغانستان اقتصادی پرمختګ له ۲۰۰۱ کال نه راهیسي - یوه لنډه کتنه

### i. مجموعی اقتصادی پرمختګ

افغانستان د روسانو له یرغل او ورپسی بیا د کورنیو جګړو څخه د مخې هم له اقتصادي له پلوه او هم له بشري پلوه یو له وروسته پاتو هېوادونو له ډلې څخه وه. دېرش ( 30 ) کلني جګړې بیا دا هېواد نور هم پسې ویجاړ کړ. خو د طالبانو د رژیم له راپرزیدو وروسته (۲۰۰۱م)، د نړیوالي ټولنې د مرستی او همکاری په نتیجه کې، د افغانستان په اقتصادي، ټولنیز، کلتوری ... چارو کې پرمختګ را منځته شو. خو بیا هم، افغانستان په کال کې[۲] اودفي نفر په سر د 1000 امریکاي دالرو ملي ناخالصه عاید او د ۴۰ کاله اوسط عمر[۳] په لرلو سره، د ملل متحد له خواه په ترتیب شوي لست کي د وروسته پاتي هېوادونو یا[۴] The least Developed Countries له ډلې څخه شمیرل کیږی.

د افغانستان اقتصادي پرمختګ د افغانستان دولت او همدارنګه بهرنیو مرسته کوونکو هېوادونو خورا زیات خندونه رامنځته کړي دي. اقتصادي، ټولنیز او همدارنګه سیاسي بنسټونه باید یو وار بیا راژوندي شي او یا هم له سره جوړ شي. البته، د ۲۰۰۱ کال نه را پدیخوا خورا ډېری پرمختیاوې په اقتصادی او ټولنیزو برخو کې تر سره شوي دي. خو د امنیت نشتون هغه عمده لامل دی، چې خورا زیاتي ستونزې یې رامنځته کړي دي او د ټول هېواد په کچه داقتصادي پرمختګ، او پراختیا په لاره کی ستره د مانع کرځیدلي ده .[۵]

د اقتصادی عواملو او فکتورونو لاملونو له جملي څخه یو هم د افغانستان جغرافیایی او طبیعي شرایط دي. دغه هېواد د ډېرو غرونو دلرو له کبله ، د تجارتی اموالو د لیږد را لیږد پروسه ستونزمنه کړې ده. وچه هوا، چې د زراعتي محصولاتو د کمښت لامل ګرځیدلي ده، بحر یا اوبو ته د لاري نشتون، کوم چې دغه هېواد یې د خارجي تجارتی له پلوه د خپلو ګاونډیو هېوادونو، تذر ټولو دمخه د پاکستان له سیاسي حالت او غوښتنو سره تړلي دي . دا هغه موضوعات یا لاملونو دي چې د اقتصادي پرمختګ په مقابل کې خنډ ګرځیدلي دي.[۶]

خو هغه څه چې د هېواد د انکشاف او پرمختګ په لاره کې موثر او مرستندوی واقع شوي دي هغه په منځني اوجنوبي آسیا کې ددي هېواد مرکزي ، کلتوري او اقتصادي موقعیت دي، چې دا هېواد یي په تجارتي او یوترانزیتي محل بدل کړي دی.[۷]

د افغانستان اقتصادی پرمختګ د ۲۰۰۱ کال نه راپدیخو، او تر اوسه هم په پخوانیو کمزورو اقتصادي بنسټونو، او بیا د روسانو له خواه د دوديز اقتصاد د خرابولو ، او همدارنګه د طالبانو د وخت او ټوپک سالارۍ پر بنسټ د کوکنارو د کښت پر بنسټ ولاړدي . سر بیره پر دي ددي هېواد اقتصاد تر ډېره حده په بهرنیو مرستو ولاړ دي .

د ۲۰۰۱ او ۲۰۱۱ میلادي کلونو تر منځ، ښه اقتصادي پرمختګ رامنځته شوې دې. د خلکو کلني عاید د ۲۰۰۱ کال نه تر ۲۰۱۱ کال پورې له ۲۶۲ امریکایی ډالرو نه ۱۰۰۰ امریکایي ډالرو ته اوچت شوي دی.[۸]


د دغه ټولو اقداماتو او کړنو برسیره، بیا هم د اقتصادی انکشاف او پرمختګ کند یا ورو حرکت ډېرې پوښتني رامنځته کړي دي ، چې ایا دا حرکت به تر کومه حده دوام دار وي .ا لبته لامل به یې دا وي ، چې نوموړی پرمختګ په یوه لویه کچه د بهرنیو هېوادونو په مرسته تمویل کیږي . دغه موضوع په خاصه توګه د ساختماني، ترانسپورتي او لوژستیکي[۹] سکتورونو په برخه کښی صدق کوي . د بیکارۍ کچه هم لکه د پخوا په شان د ۴۰ په سلو کې ډېره لوړه ده .[۱۰]

غښتلي او مسلکي کاري قوا هم په خورا لګه کچه باندې پیدا کیږي، ځکه چې تعلیم یاو او ښوونېیز اړخ ته چندان پاملرنه نه ده شوې ده.[۱۱]
سر بیره پر دې دغه اقتصادی پرمختیا په بیلابیلو سکتورنو کې د مختلفو لاملونو او بې ثباتي تابع دي. په خاصه توګه د کرهنې سکتور کې چې د هېواد عمده سکتور دي له بهرنیو عواملو سره تړلي دي. کوم اقتصادي پرمختګ چې له ۲۰۰۶ کال راهیسي په دې برخه کې شوي دي، دغه موضوع روښانه او برسیره کوي.

---

2 www.ers.usda.gov/data/.../Data/HistoricalRealPerCapitaIncomeValues.xls
3 http://www.indexmundi.com/afghanistan/life_expectancy_at_birth.html
4 Definition: Least developed country (LDC) is the name given to a country which, according to the United Nations, exhibits the lowest indicators of socioeconomic development, with the lowest Human Development Index ratings of all countries in the world.
http://www.en.wikipedia.org/wiki/Least_developed_country
5 Bundesministerium fuer wirtschaftliche Zusammenarbeit und Entwicklung:
http://www.bmz.de/de/was_wir_machen/laender_regionen/asien/afghanistan/index.html
6 InWent: http://liportal.inwent.org/afghanistan/wirtschaft-entwicklung.html
7 Andrew C. Kuchins, 2011: A truly regional economic strategy for Afghanistan, Washington Quarterly, Seite 75
8 World Bank: http://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.CD AND
www.ers.usda.gov/data/.../Data/HistoricalRealPerCapitaIncomeValues.xls
9 Stefanie Nijssen, 2010: Special Report on Economic Development in Afghanistan, The Afghan Economy: A Brief History, Seite 5
10 US CIA Factbook: https://www.cia.gov/library/publications/the-world-factbook/geos/af.html
11 Afghan Skills Development Project (ASDP), 2008: Technical Proposal, Vocational Education and Training in Afghanistan: An Overview, Seite 1

دویمه شمیره ګراف: د ناخالص ملي عاید ویش د سکتورونو پر بنسټ:




منبع: Rehman Rahmani, Tia Raappana, 2010: Economic trends and prospect in developing South East Asia, Asian Development Outlook 2011لومړی پاڼه

د هېواد ملي ناخالص عاید په کال ۲۰۰۱ کی تقریباً ۶۰ په سلو کي د کرهنې له سکتوره، ۱۵ په سلو کي د صنعت له سکتوره، ۲۵ په سلو کي د ټولنیزو خدماتو له سکتوره څخه تر لاسه کیده. له هغه وخته راهیسي تر ۲۰۰۸ میلادي کال پورې په نومړو سکتورنو کي خورا زیاد بدلونونه رامنځته شوي دي: څرنګه چي د کرهنې ونډه ۳۱ په سلو کي راټیټه شوه، خود صنعت اوهمدارنګه د ټولنیزو آسانتیاوو د برابرولو په برخه کي، هر یو ۲۶ او ۴۳ په سلو کي زیاتوالي راغلي دي [۱۲] .

### ii. په خاصو اقتصادی سکتورونو کي پرمختیا

#### کرهڼه/ زراعت

د ۸۵ سلنه په شاوخوا کي افغانان په کرهڼه بوخت دي او له همدې پلوه خپل ژوند سمبآلو ي. د نشه يی توکو کرهڼه آو قاچاق یو له عمده زراعتی ګټو څخه شمیرل کیږي. [۱۳] . سره له دي چي د بلخ او بدخشان [۱۴]په ولایتونوکي د کوکنارو د کښت کچه تر پخوا زیاته شوي ده ، خوپه ټوله کي د هېواد په زیاتو برخو کي د ګنو شمیر کمپاینونو او پرګرامونو په واسطه او د بیدل کښت په وړاندي کولو سره دکرلو اندازه را ټیټه شو ي او یا هم په پوره توګه له منځه تللي ده [۱۵]. وریژې، ممیز، اوربشي، غنم، مختلف ډوله سابه یا ترکاري ، تازه او وچي میوې، د افغانستان د عمده زراعتي تولیداتو څخه شمیرل کیږي. همدارنګه هغه کرهنیز تولیدات چي په صنعت کي تری ګټه اخیستل کیږي، لکه مالوچ، تنباکو، نباتی رنګونه، ګنې ، لبلبو، لوبیا او لمر ګلي د نباتي غوړیو د تولید په موخه، هم خورا زیاد کرل کیږي. د کرهنې سکتور په زیاده کچه د اقلیمي عواملو پورې تړلې سکتور دی. د داوبو کولو او یا خړوبولو ستونزه ډېره زیاته ده ، ځکه چي اکثراً دغه سیستمونه خراب یا ډېر ابتدایی دي. له زراعتی ماشینونو او سرې څخه په ډېر کم مقدار استفاده کیږي، ځکه چي بزګران ددغه موادو اخیستل او په دې برخه کي د پانګې اچونی توان نلري. د کلیو او اطرافونو کي د بنسټیزو امکاناتو ( سرکونو..) نشتون هم یو له غټو ستونزو څخه دي، بازارونو ته د کرهنیزو تولیداتو لیږد له ډېرو ستونزو سره مخامخ کیږي.[۱۶] د هېواد بزګران د کرهنیزو موادو ، سرې، زراعتي تخمونو او همدارنګه نورو موادو دپه برابرولو کي بهرنیو مرستو ته اړتیا لري.


د ۲۰۰۱ میلادي کال نه راپدی خوا، د مختلفو مرستندویو سازمانو په مرسته، په کرهنیزو مناطقو کې واړه او منځني تشبثات رامنځته شول[۱۷]. د ۲۰۰۹ کال راهیسي، ۵۲۰۰۰ واړه او منځني پورونه په دې برخو کي خلکو ته ورکړل شوي دي. چي ۴۹ په سلو کي د ښځو پورې اړ تشبثاتو او شرکتونو ته ورکړل شوي دي.[۱۸] چي دا هم ، په بهرنیو مرستو پورې د دي سکتور د تړلو ښکارندوی دی.

12 US CIA Factbook: https://www.cia.gov/library/publications/the-world-factbook/geos/af.html
13 David Mansfield, Peter Oldham, Christopher Ward, and William Byrd, 2008: Afghanistan economic incentives and development- Initiatives to reduce opium production, Seite 5
14 Adam Pain, Juli 2011: Opium Poppy Strikes Back: The 2011 Return of Opium in Balkh and Badakhshan Provinces, Afghan Research and Evaluation Unit, Seite1f.
15 Rehman Rahmani, Tia Raappana, 2010: Economic trends and prospect in developing South East Asia, Asian Development Outlook 2011, Seite 1
16 http://www.technologistsinc.com/news/articles/r-Vol4No3-newPerspectives-art.php
17 Aga Khan Foundation: http://www.akdn.org/afghanistan_economic_development.asp
18 US State Department: http://www.state.gov/r/pa/ei/bgn/5380.htm

**تجارت او صنایع:**

په ۱۹۹۶ میلادي کال کي د افغانستان صادرات ۸۰ ملیونو امریکایی ډالر او همدارنګه د وارداتو کچه یي ۱۵۰ ملیونو ډالرو ته رسیده.[۱۹] خو دغه ارقام په ۲۰۰۹ کال کي خورا زیاتوالي موندلي . صادرات يي ۵.۸ مليارډو ډالرو ته او واردات يي ۱.۲ مليارډو ډالرو ته زياتوالي موندلي دي.[۲۰]
د طالبانو د حکومت له راپرزیدو ( 2001 م ) وروسته پخواني تجارتي مناسبات اواړیکي دوباره تازه او نوي اړیکي هم ټینګي شوي . اساسی تجارتي همکاران عبارت دي له امريکا، پاکستان ، ایران ،ترکمنستان ، اروپاي هيوادونه ،چاپان ، ازبکستان او هند .
د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۷ کلونو تر منځ د افغانستان تجارت ښه پرمختګ کړي دي،که څه هم چي د ۲۰۰۷ کال راهيسي لږ څه شاته تګ په ستګو کيږي .


**دريمه شميره ګراف: د افغانستان تجارتي حجم د ۲۰۰۵ – ۲۰۱۰ کال تر منځ**




منبع: World Bank, 2011: Afghanistan Economic Update, Mai 2011پنځمه پاڼه

لاسی قالیني، جلغوزي، وچي او تازه ميوي، عمده تجارتی توکی تشکیلوي، دا په داسي حال کي دي، چي د 2011 کال په پيل کي د ميوو په صادراتو کي کمښت رامنځته شوي دی.

**څلورمه شميره ګراف: د افغانستان صادراتي توليداتو تقسيمات**




منبع: World Bank, 2011: Afghanistan Economic Update, Mai 2011, شپږمه پاڼه

19 Pajhwok Afghan News, November 14, 2007: Afghan-US trade up by 34pc in eight month _
http://www.pajhwok.com/viewstory.asp?lng=eng&id=45514

20 Wikipedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Economy_of_Afghanistan
21 Outlook Afghanistan: http://outlookafghanistan.net/news?post_id=1110

د يوې اوږدی مودې لپاره پاکستان ته د صادراتي توکو په ناقانونه توګه ليږدول، يوه عمده عايداتي منبع وه. د دغو قاچاقي توکو ډېره برخه پاکستاني توليدات وه . څلويښت کاله [22] د مخه پاکستان او د افغانستان تر مينځ يو ترانزيتی تجارتي تړون Afghanistan Pakistan Trade and Transist Agreement, ATTA) لاسليک شو. هغه قرارداد چې دهغي له مخي ، د پاکستان له لارې کراچې نه تر افغانستان پورې د صادراتي توکيو بې محصوله د ليږد را ليږد آسانتياوې يې برابرولې. ددغو توکيو بيا ليږدول پاکستان ته د ګمرکي محصولاتو له کبله پاکستان ته زيات زيان او تاوان ور اړول. همدا لامل وه چې پاکستان دې قرارداد ته ادامه ورنکړه. ولي داموالو ليږد يا قاچاق اوس هم روان وه ، وليتر ډېره حده دايران له لياري . د توکيو دغه شان ليږد را ليږد تور بازار ته لياره مساعده کړه، چې زياته برخه يې د مخدره توکيو د مافيا له خواه کنترول او رهبري کيده.[23]

په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان او پاکستان تر منځ سوداګريز او ترانزيتی تړون Afghanistan Pakistan Trade and Transit Agreement (APTTA لاسليک شو. دغه قرارداد د چې د امريکا په ملاتړ سره لاسليک شو، بايد د سوداګريزو توکيو ترانزيټي ليږد را ليږد پاکستان ته او له پاکستان او د هغه له بنادرو نه ممکن کړي . او همدارنګه د نوموړو توکيو ترانزيت هند ته مساعد کړي. او د اموالو ګمرکي محصول کنترول کړي .

ددغو تجارتي انکشافاتو او اسيانتاو په نتيجه کې يوه ستونزه ها رامنځ ته شو ي . هغه داد ه چې افغاني توليدات پاکستان ته صادريږي، او بيا له هغه هېواده څخه د لګ بدلون اوتغير له راوستو وروسته د پاکستاني توليداتو په نامه په جګه بيه بلې خوا ته صادريږي چې دا کار په واقعيت کې د افغانستان د سوداګرو لپاره يو لوې زيان دېي .[24]

د افغانستان حکومت د اقتصادی پرمختګ په موخه، د توکيو په وارداتو کې آسانتياوې رامنځته کړلې. ګمرکا محصول نسبتا ټيټ دي ، چې دا کار د هېواد کورني صنعتي توليدات له ډېرو ستونزو سره مخامخ کړي دي. دغه توليدات له دې امله ستونزو سره مخامخ دي، چې بهرني توليدات په ډېره ټيټه بيه افغانستان ته واردېږي، او دا لامل ګرځي،چې کورني توليدات پرته له خرڅلاوه د بازاره و ايستل شي [25] .

څرنګه چې په هرات کې د رومي باذنجانو د رب يو شرکت ونشو کولای چې د ايراني نسبتا ارزانو توليداتو سره رقابت او سيالی وکړي او په نتيجه کې يې دغه فابريکه له فعاليته پاتې شوه. د طبع او چاپ سکتور هم يو بل مثال دې، چې د دی بحران سره لاسو ګيروان دي . هغه سکتور چې په څو تيرو کلونو کې ونشو کولاي ښه پرمختګ وکړي. ځکه چې په دې برخه کې اکثر قراردادونه د نړيوالو سازمانونو له خوا د پاکستان ته ورکول کيږي. چېرته چې توليد او توليداتي مواد ارزانه د ي او له بلې خوا په وارداتو باندي ګمرکي محصول هم دير ټيټ د ي .

سره له دي بيا هم ، بهرني شرکتونه په افغانستان کې پانګې اچونې لپاره زړه ښه کوي. څرنګه چې د کوکاکولا شرکت په کال ۲۰۰۶ کې خپله توليدي ځانګه په افغانستان کې پرانيستله، ورپسې بيا د پيپسيPepsi شرکت د ۶۰ مليونو[26] ډالرو په پانګې اچونې سره په فعاليت پيل وکړ. ددغه شرکت دستګاوې به په ۲۰۱۲ ميلادي کال کې په فعاليت پيل وکړي، چې شاوخوا ۸۰۰ کسانو ته به کار پيدا کړي

### د معادنو استخراج

افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دې چې زيات کانونه او طبيعي منابع لکه تيل، ذغال، مس، کروميت، سلفر (ګوګړ)، سرب، زنک، وسپنه، ګانې او قيمتي تيږې او داسې نورې طبيعی زيرمی لرى. د معتبرو زيرمو له ډلې څخه يو هم طبيعی ګاز دي چې په کال ۱۹۶۷ کې د لومړي ځل لپاره کشف او تر يو حده استخراج شو. د طبيعی ګازو د استخراج د تيري پيړي په اتيايمه لسيز کې خپل اوج کې وه او د افغانستان د کلني صادرات ۳۰۰ مليونو ډالرو ته ورسيدل. تقريباً۹۰ سلنه توليدات يې د شوروي متحده جماهيرو ته ليږدول کيدل. د شوروي د وتلو ( ۱۹۸۹ ) سره سم د ګازو توليد په دې هېواد کې ودريدل. د مجاهدينو له خوا د ګاز دستګاوې ويجاړي شوې او د شوروي په ړنګيدو سره دا مارکيت بلکول له منځه لاړو . [27]

افغانستان د خورا زياتو طبيعي زيرمو په لرلو سره بيا هم ونشو کولي هسي پرمختګ وکړ ي، څنګه چې يې انتظار کيده . ترانزيتي ويجاړې لياري، د امنيت نشتون، د بنسټيزو منابعو کمښت له هغو عواملو څخه دي چې د نوموړي سکتور د پراختيا په مقابل کې خنډ ګرځيدلي دي. په دې ځانګه کې پانګه اچونه يوازې ددغه سکتور د خصوصي کولو له طريقه، ممکن دي[28] .

تر ۲۰۱۰ ميلادي کال پورې د تيلو ، ګاز او وسپني در استخراج د حق او امتياز د لاس ته راوړلو لپاره خورا ډېراعلانات او خبرتياوي وشوي. ښه مثال يې پهکال ۲۰۰۸ کې په دي برخه کې له چېنايانو سره د عينکو د مس داستخراج تړون دي [29]. د ۵.۳ مليارډو امريکايی ډالرو په پانګې اچونی سره دا تر ټولو لوړه بهرني پانګه آچونه ده [30]. چين يوله هغوهېوادونوڅخه دې چې د افغانستان اقتصادي پراختيا او پانګې اچونې په برخه کې ډېره مرسته کړې ده، خوپه نظامي برخه کې مرسته نه کو ي.[31] .

د افغانستان حکومت په دې هيله دې چې په ۲۰۱۱ م کال کې د نوموړي سکتور په برخه کې ۱۵۰ مليونه امريکايی ډالره لاسته راوړي، او هيله کيږي چی په راتلونکو ۱۵ کلونو کې به دا مقدار ۵.۳ مليارډو ډالرو ته ورسيږي[32]. خو په دې شرط چی امنيتي وضعيت او بنسټيز شرايط د دغه پرمختګ خنډ و نه ګرځي.

22 http://www.mpil.de/shared/data/pdf/afghan_transit_trade_agreement_1965.pdf
23 Wikipedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Economy_of_Afghanistan
24 http://www.freshplaza.com/news_detail.asp?id=81823
25 Outlook Afghanistan, June 15th 2011: Foreign imports killing off Afghan industry, Seite 11 & 8
26 Economy Watch: http://www.economywatch.com/world_economy/afghanistan/
27 US State Department: http://www.state.gov/r/pa/ei/bgn/5380.htm)
28 Wikipedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Economy_of_Afghanistan
29 Ron Synovitz: New Surveys On Afghan Minerals Raise Hopes In Kabul, http://www.afghan-web.com/economy/mineral_wealth.html

**لاسي صنايع**

لاسي قاليني او ګليمونه د افغانستان عمده صادراتي توکيو څخه شميرل کيږي، دلرګيو څخه انتيک کاپي اوجوړ شوي لاسي شيان، ارزښتناکي ډبرې، د چرمي توليدات او پوستينونه ، هغه څه دي چي بين المللي بازار کي ښه خرڅول کيږي .

د لاسي صنايعو د جوړوني له مراکزو څخه کولای شو په استالف کي د خټو څخه د لوښو جوړول فابريکه او په هرات کي د ښيښي شيانو د جوړولو فابريکو څخه نوم واخلو. حتي مخکي له جنګ څخه هم افغاني لاسي توليدات له رقابت سره مخامخ وه . ارزانه هندي او چينايي صنعتي توليدات افغاني لاسي توليداتو سره په سيالی کي دي. مختلف لاملونه، لکه نا امني، څو لسيزو کورنی جګړي او د هغو په پيله کي کدوالي دصنعتي توليداتو په مقابل کي خنډ ګرځيدلي دی.

د افغانستان دلاسی او تجارتی صنايعو اتحادی د بازار مندلو يوه نوي کړنلاره را منځته کړي. د نوموړي اتحاديي په مرسته د اتحاديی غړي دي ته هڅول کيږي چي په تجارتي د نندارتونونو کي ګډون وکړي او آن تر دي چي دغه اتحاديه په خپله هم د محلي صنايعو لپاره نندارتونونه جوړوي [34].

**مخابرات**

افغان بيسيم AWCC د ګرځنده ټيليفون لومړنی شرکت وه چي په ۲۰۰۰ کال کي يي په افغانستان په کار پيل وکړ. وروسته بيا روشن په ۲۰۰۳ کال چي په اوس وخت کي تر ټولو لوی مخابراتي شرکت دي افتتاح شو [35]. وروسته بيا روشن په ۲۰۰۶ کي بيا اتصالات، د متحده عربي اماراتو مخابراتي شرکت خپله ځانګه په افغانستان کي پرانيستله. وروسته MTN چي په اول کي يي نوم اريبا وه ، په افغانستان کي فعاليت پيل کړ.

په ۲۰۰۳ ميلادي کال په افغانستان کي کي يوازي ۱۰۰۰۰۰ ګرځنده ټيليفونونه استفاده کيدل. په داسي حال کي چي ۷ کاله وروسته کابو ۱۲۰۵ مليونه پيريدونکي په مختلفو مخابراتي شرکتونو کي ثبت او راجستر شوي وو. چي تقريبا ۵۰ په سلو کي زياتوالي ښيي.[36]

مخابراتي شرکتونه په دي هيله دي، چي دغه مقدار په ۲۰۱۱ کال کي ۹۰ په سلو کي اوچت شي، دا په داسي حال کي دی، چي افغانستان د برق د انرژي ته لاسرسي له پلوه د نړي تر ټولو محرومو هيوادونو له ډلي شميرل کيږي.[37]

**ترانسپورت او لوژستيک**

د عمومي شاهراو ( سرکونو ) جوړول چي کابل، کندهار، هرات او همدارنګه په شمال کي مزارشريف او کندز سره وصلوي، د هيواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کي يي خورا زياته مرسته کړي ده. د کابل، کندهار او هرات تر منځ جوړه شوي پخه لاره، د توکيو د ترانسپورت لپاره ترينه ښه ګټه اخيستل کيږي.

افغانستان د يو غرني هيواد په توګه د هغو هيوادونو له ډلي څخه دي، چي د ريل پټلي نلري. په اوس وخت کي د مزار شريف او حيرتان تر منځ د ريل پټلي د جوړولو په حال کي ده. چي په د ي وسيله به له ازبکستان سره تجرات آسانه او له بلي خوا به د ترانسپورت لګښت کم و ارزانه کړي.

د افغانستان په شمال کي ګاونډيو هيوادونو د تګ لاره يوازي د آموسيند په سر دجوړ شوی پلونو په واسطه امکان لري. په خاصه توګه د تاجکستان سره سوداګري له همدي لياري کيږي. د پاکستان سوداګريزي اړيکي لږ څه ستونزمني دي. خو ددغي ستونزو د حلولو په موخه، لږ څه د مخه يو تجارتي او ترانزيتي تړون د پاکستان او افغانستان تر منځ لاسليک شو. دا هغه ترانسپورتي قرارداد دي چي پاکستان ته او له پاکستانه د سوداګريزو توکيو ليږد را ليږد آسانوي.[38]

افغانستان يوازي يو هوايي ډګر لري. خو په اوس وخت کي د مزارشريف هوايي ډګر ، چي د آلمان د انکشافي مرستو په واسطه د يونړيوال ډګرپه شکل جوړيږي[39]. همدارنګه د ۲۰۰۹ کال راهيسی په هواي ترافيک هم په نړيواله کچه روزل کيږي [40]. آريانا افغان يوازينی ملي هوايی شرکت دی. دا هوايی شرکت يوازيني شرکت دي ، چي فرانکفورت ته مستقيمي الوتني لري. د هوايی ترانسپورت سکتور په ورسيتو کلونو کي ډېر پرمختګ کړي . همدارنګه خصوصي هوايی شرکتونه لکه کام اير په ۲۰۰۳ او صافی شرکت ۲۰۰۶ کال کي جوړ شول چي دغه شرکتونه کورني او بهرني پروازونه لري.

همدارنګه بهرني بين المللی هوايی شرکتونه په دي هيواد کي ډېر کمي الوتني کوي. لکه څرنګه چي Fly Dubai او Air India ډېر کم خو په منظمه توګه دوبي او هند ته الوتني تر سره کوي. د ۲۰۱۱ کال نه وروسته به Gulf Air اوTurkish Airlines به خپلي الوتني د بحرين او استانبول په لور پيل کړي.

په خلاصه ډول بايد وويل شي چي ، د تجارتي توکيو او اموالو ليږد را ليږد دبهرنيو نظامی او ملکي طياراتو په ذريعه کيږي. له همدې کبله دا پوښتنه را منځ ته کيږي ، چي په ۲۰۱۴ کال د بهرنيو قواو او نړيوالو سازمانو له وتلو وروسته دغه اقتصادي پرمختګ په ثابت پاتي شو ي او که څنګه [41].

30 http://www.timesonline.co.uk/tol/news/world/asia/article3941656.ece

31 Tiffany P. Ng, September 2010: China's role in shaping the future of Afghanistan, Carnegie Endowment for International Peace, Policy Outlook, Seite 1

32 Outlook Afghanistan, July 18th 2011: $150 revenue expected from Mines:Shahrani, Titelseite

33 InWent: http://liportal.inwent.org/afghanistan/wirtschaft-entwicklung.html

34 http://cipe.org.af/en/business_associations.htm

35 Aga Khan Foundation: http://www.akdn.org/afghanistan_economic_development.asp

**بريښنا**

د ډاډه او ارزانې برښنا درلودل يو له هغو فکتورونو څخه دی، چې په اقتصادی پرمختګ ، آسوده ژوند او ثباتکي ستر رول لوبوي. له همدی کبله د بريښنا د دستګاوو او بندونو بيارغاونه او جوړول له هغو اولويتونو له ډلې څخه دی چې مرسته کوونکي هېوادونه ورته پام لري. برق ته لاس رسي د د ي دريو لسيزو جګړو له کبله ډېر ګران شوي د ي.

يوه لويه برخه په برښنا پوري تړلي بنستونه خراب شوي وو. افغانستان په کال ۲۰۰۱ کې يوازې د ۴۳۰ ميګاواټو برښنا د توليد توانايي درلودله.[42]

دغه مقدار بريښنا د ډېرو لږو خلکو لپاره آسانتياوې برابرولې. تقريباً ۹۰ سلنه خلک د بريښنا د نعمت څخه محروم پاتې شوي وو. خو په ۲۰۱۰ کال کې د بريښنا د توليد مقدار ۷۵۴ ميګاواټو ته ورسيده.

اوس مهال په لويو ښارونو کې لکه کابل، مزارشريف او هرات کې خلک په پوره توګه د بريښنا څخه ګټه اخلي. په دې اړه هغه تړون چې د ازبکستان سره لاسليک شوی دی، دغه آسانتياوې برابری کړي دي. خو بيا هم بايد له هيره و نه باسو چې دغه سکتور هم د بهرنيو مرستو په واسطه بيارغول شوی دی. همدارنګه هغه دبديل يا الترانتيف انرژي لکه سولار د پرمختګ او سمون چار ي د بهرني مرستندويو سازمانو لخوا او مرسته تر سره کيږي .[43]

### III. اوسني پرمختګ او د حکومت تعهدات

#### i. دافغانستان دحکومت تعهدات

**د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي**

زموږ موخه د يوه آزاد بازار پرانيستل دي.دداسي بازار چې په هغه کې ټول افغانان په دې هوکړه وي چې ،د نشه يی توکيو قاچاق او همدارنګه نور داسې جرمي افعالو ته لاس اوږد نه کړي، او ټول په ګډه سره په دې بازار کې ونډه واخلي. ددغو مسؤوليتونو په غاړه اخيستلو سره ، هڅه به وکړو، تر څو خصوصي سکتور ته لاره پرانيزو. تر څو خلک له دی لارې وشي کولای قانوني ګټې تر لاسه کړ ي او په مقابل کې وشو کولاي مناسبه ماليه ورکړي . مونږ د سولې او آزادی په لور د حرکت غوښتونکي يو، خو د خارجي مرستو په پام کې نيولو سره. تر څو له دې لياري وشو کولاي چې يو قانوني او پرمختللي خصوصي سکتور د عمومي اقتصاد د لارښود په حيث منځته راوړو. هغه اقتصاد، چې دا توان ولري، تر څو فقر کم کړي او افغانانو ته يو باعزته ژوند ور په برخه کړي. د يوه پرمختللي اقتصاد ،چې د فقيرو خلکو په ګټه وي اود مخدره توکو پورې تړلي اقتصاد د له منځه وړلو په موخه، هڅه مو وکړه، تر څو مختلفي استراتيژی ګانې، د امنيت، دولت دارۍ او همدارنګه د اقتصادي سکتور په برخه کې په لاره واچوو. برسيره پر دې چې دغه ټول اقدامات، مونږ د افغانستان د ملي انکشافي ستراتيژي په چوکاټ کې په پام کې نيولي دي، خو په خاصه توګه هم دغو برخو ته، د نن او سبا د توليداتو د زياتولو په موخه، د برښنا د توليد، د سړکونو د جوړول، د اوبو لګولو سيستم، د بنسټي ظرفيتونو جوړونه، د خصوصي سکتور د پرمختګ لپاره د آسانتياوو برابرول او د غريبانو د حقوقو د ساتنې په موخه مو زياته پاملرنه کړې ده. په ورته وخت کې چې مونږ خپلې موخې په دغو برخو کې لاسته راوړو، نورو ورته سکتورونو ته لکه د زيرمو استخراج، د کليو او باڼدو پرمختګ ترانزيت او داسې نورو ته مو هم پام دی.

د سياسي او اقتصادی پرمختګ لپاره د يو مطمئن محيط او چاپيريال د برابرولو په موخه ، هيله مو دا ده چې خصوصي سکتور جدي پرمختګ وکړي. چې له يوه پلوه د خلکو لپاره د کار زمينه مساعده کړي او له بلې خوا ملي عايد زيات شي. تر څو دولت وکولای شي چې له دې لياري د خپل هېواد په ټولو چارو کې د اداري او رهبري واګې خپله په لاس کې واخلي. مونږ ددې غوښتونکي يو ترڅو دا هېواد د نورو هېوادونو په کتار کې په تيره بيا د منطقي د هېوادونو تر منځ په خپلو پښو ودريږي.

د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي يوازی د امنيت او سياسي ثبات د راوستلو په موخه نه، بلکه برسيره پر دې د يو پراخه پروګرام او چوکات جوړول د ي چې د افغانستان او د مرسته کوونکو هېوادونو په ګډه مرسته باندې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ په موخه طرح شوې ده. د ملي اقتصاد څخه ملاتړ ددې ستراتيژي د لومړيتوبونو څخه شميرل کيږي. د مالياتي نظام آسانتياوې، په وارداتي اموالو باندې لګه ماليه وضع کول، او په آسانه توګه د تجارتي شرکتونو پرانيستل، او همدارنګه د بهرنيو پانګه اچوونکو لپاره د آسانتياوو برابرول، دا هغه ټول کوښښونه دي چې د افغانستان دولت پرې اقدام کړی دی.

همدارنګه د سوداګرۍ او صنايعو وزارت په ۲۰۰۳ کال کې د One Stop Shop د عنوان تر لاندې د تجارتي شرکتونو د پرانستونکو لپاره يوه پروسه په پام کې ونيول‌هاو يوه اداره يې جوړه کړه.دغه اداره چې " د افغان پانګه اچونکو د ملاتړ اداره يعنی آيسا " نوميږي ، يو فرعي نهاد دی چې د لومړي ځل لپاره د د نوموړي وزارت له خوا د راتلونکو پانګه اچوونکو د ملاتړ په موخه جوړ شوی دی. دغه سازمان د شرکتونو د ثبت او راجستر کولو برسيره، پانګه اچوونکو ته د سلا مشورې مسئوليت هم په غاړه لري.

همدا ډول د افغانستان د سوداګری او صنايعو خونو Afghan Chamber of Commerce and Industry, ACCI هم د سوداګرۍ په برخه کې د سلامشورې او زده کړې کورسونه پرانيستي دي. ددغه نهاد سياسي اغېزې اوتاثير ورځ په په زياتيدو دي او اوس اوس د دقانون ګزاري يا مقننه قوي په برخه کې فعاله ونډه تر سره کوي.[44]

---

36 Wikipedia: http://en.wikipedia.org/wiki/List_of_mobile_network_operators_of_the_Asia_Pacific_region


37 BBC: 10 Interesting Facts you might not know about Afghanistan, http://www.bbc.co.uk/news/world-south-asia-13931608

38 World Bank, 2010: Afghanistan Economic Update, Oktober 2010, Seite 6

39 http://www.auswaertiges-amt.de/cae/servlet/contentblob/355324/publicationFile/4487/factsheet_kfw-flughafen.pdf

د دغو ډېرو هڅو په پام نیولو سره بیا هم د افغانستان د پانګې اچونې نظام د تل په شان تر نیوکو لاندې دی. په یو حقوقي نظام کې چې د دریوو مختلفو حقوقي سیستمونو څخه رامنځته شوې وي (اسلامی،فقه / عنعنوي یا عرفی سیستم اود افغانستان رسمی حقوقی سیستم ) د سوداګرو او پانګه اچوونکو د حقوقو ملاتړ به یو ستونزمن کار وي. همدغه لامل دې چې بهرني سوداګران په دې هېواد کې پانګې اچونې ته زړه نه ښه کوي.[۴۵] همدارنګه نور داسې لاملونه لکه د بهرنې سوداګرۍ په برخه کې لګې آسانتیاوې او د تجارتي شرکتونو د پرانستلو په برخه کې خورا ډېرې ستونزې، دا هغه عوامل دي چې د تجارت سکتور په مخ کې د خنډ لري. برسیره پر دې د کاپې رایت او همدارنګه د اختراعاتو او اکتشافاتو خوندیتوب پورې اړو مسائلو کې، کره حقوقي قواعد شتون نلري.[۴۶]

**پنځم شمیره ګراف: په مقایسوي توګه د پانګې اچونې وضعیت**




**منبع: World Bank: Afghanistan Economic Update, Mai 2011, ۱۵ پاڼه**


## IV. په افغانستان کې د مختلفو سکتورونو پرمختګ

### i. د افغانستان د پانګې اچونې سکتور

سره له دیچې د افغانستان دولت، ددولتي عایداتو د لاس ته راوړلو توان نه لري، خو بیا هم په نوموړې ځانګه کې لړ څه پرمختګ شوې دې. په دې ډول، د افغانستان سرانه ملي عاید د 2010 و 2011 تر منځ تقریباً 15% (د 2006/7 نه تر 2008/9 کلونو په پرتله تقریباً 7.1%) زیاتوالي موندلې دې. خو بیاهم په دې کې هیڅ شک نشته، چې افغانستان د یوې اوږدې مودې لپاره خارجي مرستو ته اړتیا لري.[۴۷]

40 Bundesministerium fuer wirtschafliche Zusammenarbeit und Entwicklung: Newsletter 12/09, Seite 4 http://www.bmz.de/de/zentrales_downloadarchiv/laender/BMZ_Newsletter-12_09_draft8.pdf
41 Outlook Afghanistan, 23. Juni 2011: Concerns about Sustainability of Development in Afghanistan, http://outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=997
42 US State Department: http://www.state.gov/r/pa/ei/bgn/5380.htm
43 Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH: http://www.gtz.de/de/weltweit/europa-kaukasus-zentralasien/3580.htm
44 US State Department: http://www.state.gov/e/eeb/rls/othr/ics/2011/157228.htm
45 http://www.tolonews.com/en/afghanistan/3109-insecurity-hurdles-investment-in-afghanistan-eu-commissioner-
46 South Asian Microfinance Network: http://www.samn.eu/index.php?q=economic-afghanistan
47 Manfred Tilz, 2011: Afghanische Wirtschaft wächst zweistellig- Gute Ernte und wachsender Dienstleistungssektor / Riesige Rohstoffvorkommen warten auf Exploration
http://www.gtai.de/DE/Content/SharedDocs/Links-Einzeldokumente-Datenbanken/fachdokument.html?fIdent=MKT201102048006)

شیږمه شمیره ګراف: د افغانستان کورني عايدات د ملي سرانه عاید پر بنسټ




منبع: International Monetary Fund, 2008: Country Report No. 08/72, http://www.imf.org

د افغانستان د دولت د کوښښونو په واسطه ، په تیرو درېو کلونو کې، د عامه آسانیتاوو د برابرولو سکتور زیاد پرمختګ کړی دي چي په خاصه توګه د مخابراتو ، مالياتي او بانکداري سیستم خورا زیات پرمختګ کړي دی. خو صنعتي سکتور ډیر په آرامه توګه انکشاف موي. د صنعتي سکتور د ملاتړ په موخه AISA ډېر زيات زيار ايستلي دي. د مثال په توګه دغه نهاد د ۲۰۰۵ کال راهیسي په مختلفو ولایتونو کي صنعتي پارکونه جوړ کړي دي. هغه شرکتونه چي د دغه پروګرام په چوکاټ کي فعالیت کوي د خورا زیاتو آسانتیاوو لکه په ارزانه بیه د ځمکي رانیول، د مالیاتي اسانتیاوي ، امنیت برابرول ، برق اوبه ، او داسي نورو څخه برخمن دي. هغه لومړنی طرحي چي د اقتصادي پرمختګ په موخه جوړي شوي دي، ګمرکي سیستم يی د ستونزو سره مخامخ کړی دي. په بهرنی تولیداتو لکه ایراني تولیداتو باندي ډېره لګ محصول وضع کيږي (د ۳ نه تر ۵ په سلو کي)، دا په داسي حال کي دي چي افغانی تاجران د ځپلو تولیداتو څخه ۳۰ په سلو کي ماليه ورکوي.[۴۸]

اوس مهال د کابل د نوي ښار جوړول پروژه یوه تر ټولو لويه پروژه ده. چي د ۲۰۰۹ کال راهيسي شروع شوي ده. دغه پروژه به نورو پانګه اچوونکي دي ته وهڅوي چي سرمايګزاري وکړي[۴۹]. او په دې ډول په افغانستان نورو بهرنيو مرستو له احتاج څخه تر یو حده خلاص شي . ددي پروژي اوسني پانګه ۳۴ ملیاردو ډالرو ته رسيږي.[۵۰]

---

48 Outlook Afghanistan: http://outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=956
49 http://www.dcda.gov.af/?page=Investments
50 http://www.tolonews.com/en/component/content/article/2295-new-kabul-city-charted-in-north-of-kabul-

اوومه شمیره ګراف: د مارکیت ویش د سکتورونو پر بنسټ

| | سکتور | د پانګو شمیر | تولیزه فیصدي |
|---|---|---|---|
| | بیار غاونه | 2505 | 42.67% |
| | ترانسپورت، لوژستیک، پوستي آسانتیاوې | 502 | 8.55 % |
| | خوراک او څښاک | 323 | 5.5 % |
| | موبل او فرنیچراو اړ وسایل | 318 | 5.42 % |
| | ټکنالوژیکي آسانتیاوې او مربوطه برابرتیاوې | 282 | 4.80 % |
| | موټر | 237 | 4.04 % |
| | روغنیات، تیل، د ډبرو سکاره او طبیعي ګاز | 235 | 4.00 % |
| | سوداګري او د سلا مشورې آسانتیاوې | 203 | 3.46 % |
| | د کور ضروریات | 176 | 3.00 % |
| | تولیدي سکتور | 154 | 2.62 % |
| | لاسي صنایع او مختلفې دندې | 115 | 1.96 % |
| | لومړنی صنایع (د کرهني او ماهیګیرۍ په شمول) | 112 | 1.91 % |
| | عامه روغتیا، دارو او نسل ګیری | 95 | 1.62 % |
| | امنیتي خدمات او مربوطه آسانتیاوې | 82 | 1.40 % |
| | مطبوعات او اړیکي | 77 | 1.31 % |
| | چاپ و فوتو کاپی او مربوطه آسانتیاوې | 74 | 1.26 % |
| | اطلاعاتي خدمات او مربوطه آسانتیاوې | 50 | 0.85 % |
| | دوبي یا کالي مینځنه | 74 | 1.26 % |
| | د سفر سکتور، اقامت او اجاره | 25 | 0.43 % |
| | کورني امور او صنعتي خدمات | 22 | 0.37 % |
| | مالي او حقوقي خدمات | 20 | 0.34 % |
| | د معاملاتو لاړښوونه او بیمه | 16 | 0.27 % |
| | رستورانت او خوراکي آسانتیاوې | 8 | 0.14 % |
| | او داسي نور | 6 | 0.10 % |
| | **پاتي سکتورنه یي په لاندې ډول دي عمده خرڅلاو د لامبو وهني حوض او مربوطه آسانتیاوپانجمنونه، اتحادیې ، غیر دولتي سازمانونه، او تعاوني شرکتونه | نیټه:۲۰۱۱ | |


اتمه شمیره ګراف: د مارکیت ویش، یوه کتنه



منبع:http://afghanistan.buildingmarkets.org/sector_graph

سربیره پر د ې چې د تولنیزو آسانتیاوو سکتور بنه پرمختګ کړی دی، خو بیا هم د ملي سرانه عاید یوه لویه برخه ، لکه دېخوا په شان ، د کرهنی له لارې تمویلیږي . برسیره پر دې چې د ۹/۲۰۰۸ کلونو تر منځ لویه وچکالي رامنځته شوي وه، چې د کلني عاید او زراعتي محصولاتو په مقدار کې د کمښت باعث شوو.[۵۱]

نهمه شمیره ګراف: د کرهنې تاثیرات د ملي سرانه عاید په زیاتوالي کې




منبع: World Bank: Afghanistan Economic Update, Mai 2011 : پنځمه پاڼه

### iii. پولي یا مالي سکتور


د مالي خدماتو سکتور د ډېر چټک پرمختګ په لور روان دی. د ۲۰۰۳ کال راهیسې شپاړلس بانکونه جوړ شوي دي. له دې ډلې څخه غښتلي بانکونه د افغانستان بین المللي بانک یا AIB دي چې په دې نړدیوو کې د آلمان کمرز بانک (Kommerz Bank) سره ملګرتیا و او همکاري پیل کړي ده.همدارنګه عزیزي بانک، ستندرد چارټر بانک Standard Charter Bank او د کوچنیو پورونو لومړني بانک یا The first micro Finance Bank دي. دغه بانک د KfW له خوا ملاتړ کیږي . دبانکي خدماتو د اجرا پهموخه نوي بانکي خانګي او شبکي پرانیستل کیږي او د پیسو حواله، د هیواد دننه او بهر د همدې بانکي ادارتو له خوا اجرا کیږي .[۵۲]
کابل بانک Kabul Bank یو بل بانک دی، چې د افغانستان په بازار کې تر ډېره وخته مخکښ او قوي بانک ګڼل کیده. . خو په ۲۰۱۰ میلادي کال کې د بعضو ستونزو له امله، لکه خلکو ته د ناقانونه پورونو ورکول او همدارنګه د اختلاس له کبله د بانک تقریباً ۹۰۰ ملیونه ډالره سرمایه له منځه ولاړه. ددغو پورونو عمده برخه د بانک شریکانو ته ورکړل شوي وه، چې د بیرت اخستلو او لاسته راوړلو لپاره یي هیڅ ضمانت نه وه. له همدې کبله وه، چې تقریباً یو ملیارد امریکایي ډالر حیف او میل شول. د دغو ستونزو په ښکاره کیدو سره سم، ډېرو خلکو خپلې پیسې له بانکه وایستلې او دا کار نور هم د بانک د کمزورتیا او ضعف لامل شو.[۵۳]
ددې ستونزې د حلولو په موخه، د افغانستان بانک (د افغانستان مرکزي بانک) هڅه وکړه تر څو دغه بانک د پور د ورکولو له لیارې بیا په پښو ودروي. په دې مقصد د افغانستان دولت مختلف تړونونه د بین المللي وجهي صندوق International Monitoring Foundation سره امضا، کړل. هغه موضوعات چې په دې اړه پرې بحث کیږي، یوازې دا نه دي چې څرنګه نوموړی بانک د ورشکستګي او بحران سره مخامخ شو، بلکه داچې، څنګه کولای شو نور بانکونه له دغه خطر څخه وژغورو. البته په دې اړه تل ستونزو موجودې وي .[54]

---

51 Manfred Tilz, 2009: Afghanische Landwirtschaft sucht den Anschluss, http://www.gtai.de/fdb-SE,MKT200906178004,Google.html
52 Economy Watch: http://www.economywatch.com/world_economy/afghanistan/
53 http://news.orf.at/stories/2065819/
54 http://www.welt.de/politik/ausland/article13458465/Zentralbankchef-fluechtet-aus-dem-afghanischen-Sumpf.html

د افغانستان د دولت سره له ډېرو بحثونو او مشاجراتو وروسته، بين المللي وجهي صندوق د ۷۰ مليونو ډالرو په مقدار د پور ورکولو څخه ډډه وکړه. سربيره پر دی ، په دی اړه په عزيزي بانک هم نيوکي و شکونه کيږي. له همدي کبله په بين المللي کچه دا تصميم ونيول شو، چي افغاني بانکونه بايد کنترول شي.[55] د بانکي چارو کارپوهان په دی باندي سره موافقت لري، چي دا بانک به هم له ورشکست سره مخامخ شي[56]. د انفلاسيون لوړوالي يا جګ نرخ هم يو له هغو عواملو څخه دي ، چي د افغنستان د مالي سيستم د ښووالي په مخکي ستونزي رامنځته کړي دي.

**لسمه شميره ګراف: د انفلاسيون نرخ په مختلفو سکتورونو کي**





منبع: World Bank, Afghanistan Economic Update, Mai 2011 اتمه پانه

د انفلاسيون د منفي اغيزو د منځه وړلو او مخنيو په خاطر بايد د افغانستان مرکزي بانک لاس په کار شي او دافغانستان ملي اقتصاد ي بازار تر کنترول او تنظيم کړي .

د مرستندويو هيوادونو ناخالصي مرستي ۵ مليارده امريکايي ډالرو ته رسيږي. دغه مقدار د تيرو ۱۲ مياشتو په اوږدو کي ۱۹ په سلو کي لوړوالي ښيي څه شي چي د بهرنيو هيوادونو له خوا ورکړل شوی پيسو جريان روښانه کوي . البته دا هم ددی ښودونکي دي چي افغانستان تر اوسه هم په خارجي مرستو باندي ولاړ هيواد دی. دغه مقدار پيسي اوس مهال د هيواد د پولي واحد او اقتصاد د ثبات لپاره يو ه مهمه مرسته ده.[57]

**يوولسمه شميره ګراف: د بهرنيو هيوادونو ناخالصه مرستي**




منبع: World Bank: Afghanistan Economic Update, Mai 2011, اوومه پانه

55 http://www.nytimes.com/2011/06/18/world/asia/18kabulbank.html?_r=1
56 http://www.washingtonpost.com/world/asia-pacific/lawmakers-allege-afghan-bank-made-questionable-loans-azizi-bank-insists-its-on-solid-footing/2011/07/11/gIQAntWB9H_story.html
57 Rehman Rahmani, Tia Raappana, 2010: Economic trends and prospect in developing South East Asia, Asian Development Outlook 2011,

برسیره پر دې چې مالي او بانکداري سیستم د ۱۱/۲۰۱۰ کلونو تر منځ ښه پرمختګ کړې دې. خو هغه څه چې په کابل بانک کې پېښ شول، ددې ښودونکې دې چې اداري فساد ته څومره لاره مساعده ده. همدارنګه د بانکونو اوسنې وضعیت، په ولایاتو کې د اقتصادي فعالیتونو لپاره هیڅ اهمیت نلري. څکه چې په ولایاتو کې (البته هغه خلک چې په ښارونو کې نه اوسیږي) د بانکي حسابونو پرانستلو ته هیڅ لاسرسي نلري. یوازې ۳۳ په سلو کې سوداګریز شرکتونه او سوداګران، بانکي حسابونه لري. د حوالې[۵۸] دودیز سیستم، چې تر ټولو پخواني د پیسو لیږدولو سیستم دی، د هېواد په ډېرو ولایاتو او ښارونو کې تري کار اخیستل کیږي.[۵۹]

### iv. د پرمختیایي بانکونو ژمنی

### نړیوال بانک World Bank

نړیوال بانک په افغانستان کې تر ټولو فعاله انکشافي بانک دې. نوموړي بانک د ۲۰۰۲ کال راهیسې د ۴۵۶ ملیونو امریکایي ډالرو په اندازه د پور په شکل او همدارنګه ۴۳۶ ملیونه امریکایي ډالریې د مختلفو پروژو د دوام لپاره مرسته کړې ده. د نړیوال بانک له زیاتو مرستو څخه د بنسټونو یا زیربناو د جوړولو، کرهنې، ترانسپورت او عامه اداري په برخو کې ګټه اخیستل کیږي.[۶۰]
همدارنګه دغه بانک د افغان ساختماني شرکت صندوق Afghan reconstruction trust fund سره مرسته کوي . دغه پروژه د مالي وسایلو او امکاناتو د ویش د څرنګوالي کتنه او دویش تنظیم یې کوي. دغه پروژه یا صندوق چې د ۴۰۰ ملیونو امریکایی ډالرو پانګې په لرو سره چې د بیلابیلو مرستندویو هېوادونو له خوا تمویل کیږي ، په لومړي قدم کې د زیربناو د جوړیدو او له بهر څخه د مسلکي افغانانو د راتللو له پروګرام سره مرسته کو ي. په ۲۰۱۱ کال کې به نړیوال بانک ۲۲ ملیونه امریکایي ډالره یوازې د خصوصي سکتور د انکشاف په موخه مرسته وکړي.[۶۱]

### د آسیا انکشافي بانک ADB

د آسیا انکشافي بانک هم یو له هغو نړیوالو بانکونو څخه شمیرل کیږي، چې په منځنی آسیا کې د فقرد لمنځه وړلو ته ژمن دې. نوموړي بانک د ۱.۲ ملیارد ډالرو په مقدار افغانستان ته د پور په حیث، تخنیکي خدماتو، بانکي ضمانتونو او د خصوصي سکتور د ملاتړ په موخه مرسته کړې ده. افغانستان د آسیایي انکشافي بانک نه د پور اخیستونکو هېوادونو په کتار کې اتلسم هېواد دی.[۶۲] نوموړي بانک په افغانستان کې په مختلفو سکتورونو کې لکه طبیعي زیرمې، بریښنا، ترانسپورت، مالي او بانکي سیستم او د عامه سکتور په برخو کې پروژې تر لاس لاندې لري. د آسیایي انکشافي بانک یوه عمده پروژه په افغانستان کې د بین المللي سوداګرې د آسانتیاوو د برابرولو Promoting International Trade and Cross-Border Trade Facilitation پروژه ده. نوموړې پروژه به د افغانستان د بهرنی تجارت ته آسانتیاوې برابرې کړي.[۶۳]

### د آلمان انکشافي بانکDeutsche Entwicklungsbank

د آلمان انکشافي بانک د ۲۰۰۲ کال راهیسې په مختلفو سکتورونو لکه اوبه لګونه، د بنسټونو جوړونه، بریښنا او اقتصادي پرمختګ کې واړه او متوسط پورونه خلکو ته ورکوي. په همدې موخه نوموړي بانک د لومړي ځل لپاره د آغا خان خیریه موسسې په مرسته، په افغانستان کې د کوچنیو پورونو در ورکولو لومړني بانکThe First Microfinance Bank پرانیسته . په دغه بانک کې د لسو ملیونو یورو په اندازه پانګه اچونه شوې ده. دغه بانک افغاني سوداګرو ته کوچني پورونه ورکوي.[۶۴]


### iv. د افغانستان په اقتصاد باندې د نړیوالو مرستو اغیزه

نړیوال مرسته کوونکي هېوادونه د افغانستان په اقتصادي پرمختیا باندې ډېره اغیزه لري. د بهرني هېوادونو له خوا د دولت په خزانه یا داره کې ډېري پیسې په مصرف رسیدلي . څرنګه چې په ۲۰۰۹ کال کې د ۵۹۲ ملیونو امریکایي ډالرو په مقدار یوازې د بشري خدمتونو په موخه مرسته شوې دي. په عمومي توګه په دې برخه کې ۲.۶ ملیارده امریکایي ډالره مرسته شوې دي.[۶۵] .

د ۲۰۰۱ میلادي کال نه تر ۲۰۰۹ کال پورې پوره ۶۲ ملیارده امریکایي ډالره مرسته شوې ، چې تقریباً ۵۰ په سلو کې یې د ملي اردو او ملي پولیسو په برخه کې مصرف شوي دي .
د ۲۰۱۱ کال لپاره د وعده شوو مرستو اندازه ۵۴۰ ملیونو امریکایي ډالرو ته رسي .۶۷

58 Definition: Hawala ist ein informelles Werttransfersystem basierend auf Vertrauen und einem weitreichendem Netzwerk von Geldverleiher, http://de.wikipedia.org/wiki/Hawala
59 http://www.samn.eu/index.php?q=economic-afghanistan
60 http://trade.gov/afghanistan/doc_afghanistan_marketops.asp
61 Afghan Ministry of Finance: http://mof.gov.af/en/news/2048
62 http://www.adb.org/Afghanistan/main.asp
63 http://trade.gov/afghanistan/doc_afghanistan_marketops.asp
64 http://www.kfw-entwicklungsbank.de/DE_Home/Laender_Programme_und_Projekte/Asien/Afghanistan/Leuchtturmprojekt_1.jsp
65 http://www.globalhumanitarianassistance.org/countryprofile/afghanistan


دولسمه شمیره گراف: د بهرنیو هېوادونو مرسته شوې پیسې او د ناخالصه ملي عاید زیاتوالی




منبع: Council on Foreign Relations: blog.cfr.org/geographics

مختلفې پروژې، په خاصه توګه د مالي سیستم د ثبات، د بیارغاونې ، لوژستیک او ترانسپورت په برخو کې د بهرنیو مرستو په واسطه تمویلیږي. دغه موضوع ددې ښکارندوي ده چې د افغانستان اقتصاد په بهرنیو مرستو پورې تړلي او ولاړ دی.

دیارلسمه شمیره گراف: د بهرنیو هېوادونو مرسته شوې پیسې او د دولت مصارف




منبع: World Bank: Afghanistan Economic Update, Mai 2011 لسمه پاڼه

اوس مهال د افغانستان د دولت مصارف او لګښتونه د نړیوالې ټولنې په مرستو تر سره کیږي . د نړیوال بانک احصائیو ته په کتنې سره ویل کیږي، چې په کال ۲۰۱۱ کې به کابو ۹۷ په سلو کې د افغانستان د دولت لګښت د بهرنیو هېوادونو نظامي او بشري شتون په مرسته تمویلیږي[68] . مرسته کوونکي هېوادونه اوس په دې هڅه کې دي، چې خپله ستراتیژي د افغانستان د اقتصادي پرمختیا لپاره تجدید نظر کړي او د افغانستان په شرایطو یې برابر کړي . څرنګه چې یو امریکایی څېړنیز مرکزد امریکا حکومت ته دا ګواښ ورکوي ، هغه پیسې چې په دې موخه باید لګول شوی وی، زیاته برخه یې د اداري فساد او ناامني وسیله ګرځېدلي دي او د یوسالم اقتصادي پرامختګ مخه نیسي. په تېره بیا د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته کله چې د بهرنیو ځواکونو وتل شروع کیږي، د اقتصادي بحران ( دیپریشن ) سبب شي .[69]


خو سره له د ې هم دغه هېواد ته ډېرې پیسې رواني د ي ، لکه څنګه چې همدااوس اروپایي ټولنې په 2014 کال کې د پوره امنیت تر سپارلو ، د ۶۰۰ ملیونو امریکایی ډالرو د ورکولووعده کړې ده[70].

---

66 Relief Web: Afghanistan: Donor Financial Review Report, http://reliefweb.int/node/349355
67 Financial Tracking Services, Juni 2011: List of all humanitarian pledges, commitments & contributions in 2011, http://www.reliefweb.int/fts
68 Gregg Carlstrom, Juni 2011: 'Economic Depression' looms in Afghanistan, http://english.aljazeera.net/news/asia/2011/06/20116812933228775.html
69 Evaluating US Foreign assistance to Afghanistan, 2011, Seite 8, http://www.gpoaccess.gov/congress/index.html
70 Outlook Afghanistan, July 18th 2011: EU pledges 600 m $ in id to Afghanistan, Titelseite & Seite 8

**اقتصادي کتنه**

افغانستان په تيرو لسو کلونو کي ښه پرمختګ کړي . هغه هم په د ي خاطر چې د بهرنيو مرستو مقدار ۵۹۲ مليونو ډالرو ته رسيږي[۷۱] . په دي بهرنيو مرستو باندي د افغانستان تکيه کول ا، کيدي شي ددي هېواد پر اقتصادي پرمختيا ،بلخصوص ورسته د بهرنيو قواوو له وتلو څخه بده اغيزه والري . څرنګه چې اقتصادي شنونکي، د امريکايي قوا او ناتو د وتلو سره سم، د يوه اقتصادي فشار ګواښ ورکوي.[۷۲]




منبع: Quelle:http://www.globalhumanitarianassistance.org/countryprofile/Afghanistan

### i. د افغانستان په اقتصاد باندې د نړيوالو مالي مرستو اغيزه

د نړيوال بانک د احصائيي له مخي ، اوس مهال کابو ۹۷ په سلو کي د افغانستان اقتصاد، د بهرنيو هېوادونو د نظامي حضور او بشري مرستو په واسطه په پښو ولاړ دی. د امريکا د سنا د مطالعاتو په مطابق،[۷۳] دغه مرستي په اوږد مهاله پروژو کي نه مصرفيږي، بلکه په هغو لنډ مهاله پروژو کي، او له همدي کبله چې د هېواد د پرمختګ لپاره چندان اغيزمني نه تماميږي . د بيلګي په توګه د افغانستان دولت ځني ځيلو مامورينو ته،د اضافي معاش په ورکولو سره کوښښ کوي هغوي وساتي ؤ ځکه چې ګڼ شميي افغانان چې په خارجي سازمانونو کي کار کوي ،لس ( 10) برابره دولتي ماورينو او يا ديوهنتون د پروفيسرانو په کچه معاش تر لاسه کوي . برسيره پر دي . همدارنګه د دغو مرستو او په وخت و ازمانسره دهغو د مصرفول ، اداري فساد او رشوت ته زمينه برابره و ي. ددغي ستونزي په وړاندي ، څنګه چې د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژۍ او نړيواله ټولنه هم حکم کوي ، بايد کلکه مبارزه وشي.[۷۴]
تر يو حده د مرستو منفي اغيزه او اداري فساد په ډېره زياده اندازه د افغانستان اقتصاد سخت اغيزمن کړې دی. د شفافيت نړيوال احصائيوي انديکس *Transparency International* Korruptions- Index[۷۵]. له مخي ، افغانستان د اداري فساد له لحاظه په نړي کي دريم هېواد دی. دا په داسي حال کي دی، چي سوماليا او مايانمار هريو اول او دويمه درجه کي دي.
په افغانستان کي د لګو پيسو په ورکولو ( رشوت) سره د هر کار کولو امکان نشته. د مثال په توګه که څوک بيره لري اوغواړي چې هواي ډګر ته بي له کنترول نه داخل شي ، کولاي شي چې د شلو ډالرو په ورکولو سره، پرته له کومي ستونزی او ځنډه دا کار وکړي . همدارنګه که څوک وغواړي چې پرته له آزموينې، د موټر چلوني لايسنس يا جواز تر لاسته کړي ،بايد ۱۸۰ ډالره مربوطه نهاد ته رشوت ورکړي. او که څوک وغواړي چې خپل يو نژدې دوست له زندان نه راخلاص کړي، نو بايد ۶۰۰۰۰ امريکايي ډالره پانګه اچونه وکړي. د پورته او داسي نورو مثالونو په پام کي نيولو سره ، د ملګرو ملتونو دسازمان د احصائۍ له مخي (UNODC)، د في نفر په سر د ملي عايد تقريباً يو په ځلورمه برخه په فساد کي ورکيږي، په دي مانا چي کابو ۵.۲ بليونه امريکايي ډالرو په کال کي په اداري فساد او رشوت کي ورکول کيږي .[۷۶]
ددغو مطالعاتو پر بنسټ، تر ټولو فاسده نهادونه هغه دي، چي قوانين او قواعد وضع کوي. پوليس او همدارنګه قضات او ځارنوالانو ته زيات رشوت ورکول کيږي. همدارنګه په افغانستان کي د UNODC رئيس هم په دي باور دی چي اداري فساد له هغو لاملونو څخه دي چي په افغانستان د امنيت د ښه والي ، د دولت رهبري او اداري په مقابل کي يو لوي خنډ ګرځيدلي دي.

71 Stand 2009: http://www.globalhumanitarianassistance.org/countryprofile/afghanistan
72 "Economic depression looms in Afghanistan", 2011: english.aljazeera.net/news/asia/2011/06/20116812933228775.htm
73 "Evaluating US Foreign Assistance to Afghanistan", 2011: http://foreign.senate.gov/download/?id=E8637185-8E67-4F87-81D1-119AE49A7D1C
74 "Fighting Corruption in Afghanistan – a Roadmap for Strategy and Action", 2007: http://www.unodc.org/pdf/afg/anti_corruption_roadmap.pdf
75 Stand 2010: http://www.globalhumanitarianassistance.org/countryprofile/afghanistan
76 „Corruption in Afghanistan" UNODC 2010: http://www.unodc.org/unodc/en/frontpage/2010/January/corruption-widespread-in-afghanistan-unodc-survey-says.html

برسيره پر دي ، اداري فساد له نور عمده جرايمو لکه د مخدره موادو قاچاق او ترحګري او داسي نورو[۷۷] څخه ملاتړ کوي. نه يوازې ملګري ملتونه بلکه همدارنګه په سلو کي ۵۹ افغانان هم په دې باور دي چي اداري فساد د افغانستان لويه ستونزه ده. چي په خوا کي يې نا امني ( 54% ) او بيکاري ( 52% ) هم له لويو ستونزو څخه شميرل کيږي. [۷۸]
دې موضوع ته په پاملرنې سره چي په نژدي راتلونکي کي به دامنيت چاري افغان حکومت ته وسپارل شي ، د نړيوالي مرستي او له اداري فساد د افغانستان پر اقتصادي پرمختګ سخته اغيزه و کړي.، سره له دې چي ددي وروسته به افغانستان ته د مرستو په اندازه کي کمښت راشيي، ولي بيا هم تر ډيره وخته به نړيوال سازمانونه په دې هيواد کي پاتي شي .
اوس مهال نړيواله ټولنه په دې هڅه کي ده، تر څو خپل ۵۰ په سلو کي مرستي او وسايل د افغانستان دولت [۷۹]ته ورکړي. همدارنګه نوموړې ټولنه تصميم لري چي خپله نوې ستراتيژی د [سوداګري د مرستي په بدل کي - Aid to Trade] تر عنوان لاندې پلي کړي. ددي لپاره چي د بهرنيو قواو د وتلو وروسته هم افغانستانته د مرستو لړي روانه وي ، د آلمان حکومت غواړي تر 2013 کال پوري په اجتماعي برخه کي د بيا روعوني لپاره خپلي مرستي تر د ۲۰۰ مليونو يورو پوري زياتي کړي [۸۰].

**ii. د مرستي څخه سوداګري ته بدلون**

**د پرمختيايی مرستو نه د سوداګريز پرمختګ په لور**

اوس مهال زيات شمير اقتصاد پوهان او د نظر خاوندان په دې باور دي او تاکيد کوي، چي د وريښمو دلارې بيارغاونه به ډېر اغيزمن کار وي.[۸۱] له همدې کبله دغه متخصصين په دې ټينګار کوي چي د زيربناو جوړول د سرکونو بيارغول او نوي جوړول د پټلي جوړول ضروري کاردي .له تاجکستان څخه د ګازو او بريښنا په صادرولو هم تاکيد کوي.[۸۲] .
ددي ترڅنګه د افغانستان حکومت په ځينواسنادو او مدارکو کي هم په دې ټينګار کيږي چي ، د افغانستان د اقتصاد په جوړلو کي بايد خصوص سکتور ته پوره ونډه ورکړل شي .
داټول ښې اوسمي مفکوري او نظرونه دي . له افغانستان نه يوه ترانزيتي لاره اويا په اسيا کي مرکزي نقطه جوړول [82] د يو راتلونکي خيال په توګه کتل کيږي . دا په داسي حال کي ده چي د ا هيواد وروسته له 10 کاله ( آزادي ) اوس هم د يو ناروغ په ډول نړيوالو مرستو سريم ته اړتيا لر ي. دغه ټول اقدامات ديو عمل کرد حيثت لري چي څنګه وکولي شي يو ويجاړ دولت ، لکه افغانستان بيا په خپلو پښو ودروي .
هغه څه چي په دغو ټولو کړنلاروا وبررسيو کي نه تر سترګو ګيري ، هغه دا پوښتنه ده، چي څرنګه کولای شو دغو موخو ته ورسيږو. د مثال په توګه دا سوال منځته راځي چي څرنګه کولای شو د فعاليتونو اداره او مديريت وکړو؟ په يوه هيواد کي چي يوه لويه برخه د طالبانو او نورو مخالفو ډلو او قبيلوي مشرانو له پلوه ادره کيږي، څنګه کولای شو چي د دولت د اداري او رهبرې څخه وغږيږواو دبحران په وخت يې مديريت وکړو. ځوک کولای شي دا تحليل په غاړه واخلي، او يو پانګه اچونکي ته دا ډاډ ورکړي چي کومي لاري مطمينه او له حملو خخه ډاډه دي ؟ او يا داچي ددي دعده وکړي چي کوم يلار بيه په راتلونکي 5 کلونوکي د استفادي وړ و ي. په ټول هيواد کي سړکونه جوړيږي او د افغانستان لويه شاهراه بيا جوړه شوه. برسيره پر دې ، ډېر زيات ماينونه له منځه وي وړل شول. خو بيا هم يو ډېر زيات شمير ماينونه د عامه خلکو او دنظامی وسايطو له منځه وړلو سبب ګرځي .
همدارنګه په افغنستان کي لکه د نورو برخوپه شان ، په دې برخه کي هم مسلکي کسان نه لري ، تر څو په راتلونکي کي و کولي شي ، په نړيواله مرسته جوړشوي منجمنت / مديريت تازه او رهبري کړي.
يوه بله لويه ستونزه د لوژستيک برخه کي ده. څرنګه چي مخکي وويل شو، افغانستان يوه له هغو هيوادونو څخه دي چي له مختلفو قومونو ، ژبو، مذهبونو او نژادونو څخه جوړشوي دې چي بيا په خپل مينځ کي په سيالو ډلو او د جنګ سالارانو له خوا په وړو ګروپونو ويشل شوي او رهبري کيږي . د افغانستان حکومت يوازې په پلازميني پوري محدود دې. له همدې کبله د خلکو اوتاجرانو څخه ماليه اخيستل او د سرکونوترانسپورتي محصول،چي د اقتصادپه وده کي ستر رول لوبوي، يو ډېر ستونزمن کار وي، بيدون له د ي چي نوموړې پيسي دمخدره توکو دقاچاقبرانو ، جنګ سالارانو او طالبانو شخصي جبونو ته ورشي . بله عمده لوژستيکي ستونزه، له دغه هيواد څخه د اموالو او کاليو ستونزمن انتقالول دي. د لوی سکندر او چنګيز خان په وخت کي د فيلانو او اوښانو په واسطه ليږد را ليږد کيده. خو اوس مهال او همدارنګه په راتلونکي کي د لاري ګانو په واسطه به حمل او نقل کيږي. له همدې کبله اوس مهال نه يوازې مسلکي او با تجربه کسانو ته اړتيا ده، بلکه هغه تخنيک ته چي ۲۴ ساعته د حمل او نقل له پروسي څخه کتنه او کنترول وکړي ، هم اړتيا شته. دداسي مسلکي کسانو روزل ډېر زيات وخت نيسي. په دې برخه کي د افغان پوليسو د روزني پروګرام ،چي خوراډېر وخت

77 „Corruption in Afghanistan“ UNODC 2010: http://www.unodc.org/unodc/en/frontpage/2010/January/corruption-widespread-in-afghanistan-unodc-survey-says.html
78 19. Januar 2010: “UN Report Claims Bribes Equal to Quarter of GDP” von *Matthias Gebauer und Carsten Volkery*
79 Communiqué, Kabul International Conference on Afghanistan, 2010
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/Kabul%20Conference%20Communique.pdf
80 Stand 2011, (2009: 220 Mio, 2013: 430 Mio): http://www.auswaertiges-amt.de/EN/Aussenpolitik/Laender/Laenderinfos/01-Nodes/Afghanistan_node.html
81 z.B. “The key to Success in Afghanistan”, S. Frederick Starr, 2010 und “A Truly Regional Economic Strategy for Afghanistan”, Andrew C. Kuchins, 2011
82 Seite 7: “The key to Success in Afghanistan”, S. Frederick Starr, 2010

يي دربر ونيوه ،يوه ښه بيلګه ده. که څه هم تقريبا 67 په سلو کې له دندي څخه د پوليسو تېښته يوه بله ستونزه ده، چې د پوليسو دسالمي او کاري اداري په جوړولو کې ستر خنډ ګرځيدلي[۸۳] .
امنيتي وضعيت يوله لويو ستونزو څخه دې چې، د وريښمود لاري د بيارغاوني په مقابل کې خنډ ګرځيدلي دی.[۸۴] ښاغلي فريدريک ستار په دې باور دی، چې د ترانسپورت په واسطه کولای شو ثبات هم منځته راوړو. [ کله چې يو کم شمير موټران په سړک روان وي ،غله په اسانه کولي شي هغه ودروي او چور يي کړي. خو که چېري د موټرانو شمير په سل هاو وي ، نو د لارو غله نه شي کول هغه ټول چور او مال يي غلا کړي. ، کڼ شمير موټران خپل منزل ته رسيدلي شي او په دي ترتيب دا کار هم د افغانستان اقتصادي پرمختګ کي مرسته کوي. همدارنګه به سوداګران او هم عامه خلک دي ته چمتو شي چې د سرکونواو لارو په خونديي ساتلو کي مرسته وکړي [۸۵] .
دغه خوشبينانه ولي شوني مقصد ته د رسيدلو لپاره زيات وخت پکار دی . نړيوالي ټولني په تيرو لسو کلونو کي وښوده چې دوی کار توانای نه لري. موږ د چټکو او شفافو نتايجو غوښتونکي يو، تر څو ولولای شو خپلو خلکو ( ماليه ورکونکو) ته ثابته کړو، چې په دې هېواد کې پانګه اچونه يو ډېر مهم کار دی. په آلمان او يا هم په امريکا کي ماليه ورکونکو خلکو ددي قناعت ورکول ، چې موږ نورو لس ( 10) کلونو ته اړيتا لرو ،تر څو د خپلو ميلياري مرستواو سرمايګزاري پايلي څرګندي ، افغانستان په يو جوړ او کاري دولت بدل ، د اوريښمو لاره جوړه او افغانستان دمنطقي په يو تجارتي مرکز تبديل شي، يو ستونزمن کار وي .

### iii. د افغانستان د اقتصادي پرمختيا په موخه نړيوالي ستراتيژی

**د امريکا له خوا نيول شوي تصماميم ( کاري لست )**

د افغانستان اقتصادي پرمختګ د ټينګښت په موخه، د امريکا متحده ايالاتو ستراتيژي له څلورو برخو څخه تشکيل شوې ده. د کاري قوا استخدامول، د ټولنيزو آسانتياوو بنسټيزه جوړونه، د بنسټونو بيارغاونه او د مالي او بانکداري سيستم ثبات او ملاتړ. له همدې کبله، اوس مهال ويل کيږي، چې د چارو اداره به د افغانستان دولت او خصوصي سکتور ته ورکول کيږي . اوس دا پوښتنه مطرح کيږي، چې ايا د افغانستان دولت نه بايد د کارمندلو ابتکار او مسوليت په لاس کې واخلي ، په عوض ددي چې د هغې رهبري د امريکا څخه ترلاسه کړ ي . تل داسي واقع شوي دي، چې غربي نړ ي ا د يوې مسئلي لپاره يوه ستراتيژی مطرح کړې او بيا يې د پلي کيدو لپاره د افغانستان دولت ته ورسپارلي ده. ښه به دا وي چې افغانان د بهرني ملاتړ په لرلو سره، خپله لاس په کار شي، او خپله ستراتيژې او سيستمونه مطرح کړي او پلي يې کړي، پرته له دې چې، د بهرنيو ستراتيژيو په تمه کيني.

**د آلمان نيول شوي تصميمونه**

د امنيت د مسئوليت پوره انتقال، د آلمان هېواد داوسني ستراتيژی د لومړيتوبونو څخه په لومړي مقام کې شميرل کيږي. د آلمان د بهرنيو چارو وزارت په دې اړه د افغانستان طبيعي زيرمو ته زيات ارزښت ورکوي.[۸۶] او په دې باور دي چې بين المللي پانګي په اوږد مهال کې ددې توان لري، چې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ او ثبات تضمين کړي.
او له دې لياره وشي کولای چې خلکو ته کار پيدا کړي ، فقر او غريبي له منځه ويسي . په دې اړه د آلمان هېواد په دې هڅه کې دې چې د افغانانو سره د د شته و زيرمو د استخراج او لاس ته راوړلو لپاره د حقوقي قواعد او مقرراتو د تدوين او جوړولو په برخه کې مرسته وکړ ي. همدارنګه د آلمان هېواد پوري اړونده نهادونه په د ي کوښښ کوي چې د يو آزاد او دوامداره اقتصاد د پرمختګ په موخه ، لازمي کاري کړن لاري ، مقررات او چاپيريال برابر کړ ي [88]. په دي لاره کې د آلمان دولت زيات هغه پروژي اصل ته ډيره پاملرنه کوي ، کومي چې اوس مهال د افغاني همکارانو له خوا په بريالي توګه مخ په وړاند ي ځي، که څه هم ځني دا سي پروژي شته چې دپيسو له دريدوسره هغه په ټپه دريږي.که چيري دي مسلي ته ډېر ځير شو نو داسي بريښي چې آلماني متخصصين له د ي څه يو ډول ده ده کوي چې کومه پراخه ملي ستراتيژي جوړه کړي . هغوي هڅه کو ي تر څو په همدي پروژي اصل اکتفا وکړ ي اود افغانانو د مسووليت منلو په روحيه ، چې تر اوسه چندان قوي نه ښکاري، او د کانونو پراستخراج باندي بسنه
وکړ ي.

83 “Verschenkte Jahre bei der Polizeiausbildung“, Zeit online: http://www.zeit.de/politik/ausland/2010-01/polizeiausbildung-afghanistan-3
84 Frederick Starr, author of “The key to Success in Afghanistan”
85 Seite 79: “The key to Success in Afghanistan”, S. Frederick Starr, 2010
86 Website der Bundesregierung: http://www.bundesregierung.de/Webs/Breg/DE/Afghanistan/afghanistan.html

**د خصوصي سکتور پرمختیا:**

دتیرو کلونو اقتصادي پرمختګ د ځنډ او ورولي په مقابل کې د غبرګون په حیث د نړیوالې ټولنې منتقدینو په دې برخه کې د پرمختګ غوښتونکي دي. بې طرفه اقتصادي شنونکي د امریکا ستراتیژۍ سره د خصوصي سکتور د ملاتړ په اړه همنظره دي. خو ددوې زیات تاکید په دی دې، چې دغه سکتور باید په لویه کچه د کورنیو سوداګرو او پانګو په واسطه رهبري شي. تر کومه ځایه چې د امنیت او اقتصادي پرمختګ تر منځ رابطه ډېره زیاته پیچلې ده، خود خصوصي سکتور نه ملاتړ په راتلونکي کې د اقتصادي ثبات لپاره ډېر اغېزمن وي. په مختلفو سکتورونو لکه کرهڼه، کاني زیرمې، ټولنیزې آسانتیاوي کې د تشبثاتو پرانیستل او له هغې لیارې په همدغو تشبثاتو باندې مالیه وضع کول، کولای شي چې د اقتصادپه پرمختګ زیاته اغېزه وکړ ي. او له همدې لارې به وي چې خصوصي سکتور د کار په مندلو او هوداراز د فقر په لمنځه وړلو کې اغېزمن واقع شي، بلخوص په داسې ټولنه کې چې په هغې کې بیکاري په همغه کچه ستونزې را منځ ته کړي ، لکه څومره چې بې امنیتي هم رامنځ ته کړي .

د دغه مودل په ذریعه، خصوصي تشبثات باید له یوې خوا د مختلفو سکتورونو لکه کرهڼه، صنعت او ټولنیزو خدماتو د پرمختګ د موتور حیثیت ځانته غوره کړي او له بلې خوا به زیات خلک له دې لیارې ثبات او امنیت ته لیوال شي.

په افغانستان کې د خصوصي تشبثاتو او سکتور د استحکام او ثبات په موخه، بعضې شنونکي په دې باور دي، چې باید اساسي بدلونونه منځ ته راشي: د کاپیټالیزم د سیستم منته ، البته دې موضوع ته د پاملرنې څخه پرته، چې په ابتدا، کې به لګ څه ستونزمن ښکاره شي، د اقتصادي فعالیتونو ملاتړ، پرته د دولت او نړیوالې ټولنې د نظارت څخه . البته نه یوازې ثبات ، بلکه د متحرکو اقتصادي جوړښتونو شتون هم اړین د ي . په دې ترتیب باید خصوصي متشبثین او پانګه اچونکو په اقتصادي تصامیمو کې شریک کړل شي. د ثبات او بیا رغاوني په ستراتیژي کې باید اقتصادي پرمختګ ته د یو مرکز ي اصل او هدف په توګه وکتل شي اونه دیو دویم هدف په شان ،څنګه [ې تر اوسه شوي ده . مرکزي دولتي اقتصادي تصامیم او یوازې مرکزي اقتصادي فعالیتونه، په یوه هېواد کې چې د هرې نګاه نه کمزورې ، نسبت پرمختللو هېواد ته ، کول یشي په اقتصاد پرمختیا بده او ه منفي اغېزې ولري. څرنګه چې لیدل کیږي او په تیرو کي هم تجربه شو ي، د افغانستان حکومت دومره کمزروي د ي نه شوکول له هغه څخه د پوښه مثال په توګه یادکړو .[89]

پورتني او همدارنګه نور مطالعات لکه د بین المللي خصوصي تشبثاتو مرکز یا *Center for International Private Enterprise (CIPE)*[90] دي نتیجي ته رسي چې په افغانستان کې ددې لپاره یولوي ظرفیت شته چې وکولي شي خصوصي اقتصاد رامینځ ته کړي .

ددغه پوتانسیل یا ظرفیت څخه د ګټې اخیستنې په موخه، باید د افغانستان دولت تر ټولو د مخه د اقتصادي پرمختګ موانع لکه اداري فساد ، بي امنی او نور له منځه ویسي ، پانګو ته لاس رسي ممکن کړي، مقررات کړنلاره او قوانین ترتیب کړي . همدارنګه نړیواله ټولنه باید د افغانستان له دولت سره په دي لاره کي مرسته وکړي او ددې ترڅنګ څپله ستراتیژۍ په مختلفو برخو کې په منتقدانه ډول تجدید نظرکړي.

---

87 Website des Auswärtigen Amtes: http://www.auswaertiges-amt.de/DE/Infoservice/Presse/Meldungen/2011/110620-RohstofflandAfghanistan.html

88 GIZ NAWI factsheet: http://www.auswaertiges-amt.de/cae/servlet/contentblob/344508/publicationFile/48826/FactSheetKMU.pdf

89 „Bactrian Gold: Challenges and Hope for Private-Sector Development in Afghanistan“, by Jake Cusack and Erik Malmstrom (Ewing Marion Kauffman Foundation)

90 „Afghan Business Attitudes on the Economy, Government, and Business Organizations“, Afghan Business Survey 2009 – 2010, by CIPE & Charney Research

### iv. د افغانستان د اقتصادي پرمختګ په اړه د هېواد دننه د خلکو نظریات

په د ي موخه چې وضیعت مو له یو بل لید لوري نه ارزولي و ي، مونږه ((د دي مطلب لیکونکي) د هېواد دننه ، مختلفو وړو او متوسطو متشبثینو سره او همدارنګه د سوداګرو د اتحادی له یو شمیر استازو سره خبرې اومرکې کړې دي، او په لړ کې مو دغه پوښتنې مطرح او بحث ته وړاندې کړې.

آیا د افغانستان د ملي انکشافي ستراتیژي طرحه ، د نړیوالو ستراتیژو په وړاندې د افغانانو ځواب دي ؟ او د افغانستان د راتلونکي اقتصادي پرمختګ په اړه د افغانانو لیدلوري او مفکوري څه دي ؟

کومې پایلې چې ددې بحث څه لاسته راغلي، په هیڅ ډول د ټولو افغانانو د نظریاتو استازیتوب نه شي کولي، خو بیا هم،په یوه نسبي توګه پهد یآړه د خلکو د نظریاتو یووالي څګندوي .

د لومړۍ پوښتني په اړه خلکو دا وویل چې د افغانستان د ا ملي پرمختیاي ستراتیژي په هیڅ وجه د خصوصي سکتور او تجارت په برخه کې اغیزمنه نه شي کید ي، او هیڅکله دغه ستراتیژي د افغانانو ځواب نه دي.

اوس مهال د پانګه اچوونکو او خصوصي متشبثینو یا سوداګرو تر مینځ دوه رنګه نظریات شتون لري. ځیني ، بدبینه خلک په دې باور دي، چې تر ۲۰۱۴ کال پورې پاتې وخت څخه باید ښه ګټه واخیستل شي. تر څو وشي کولاي زیاتې پیسې لاسته راوړي او په یوه مناسب وخت کې که لازم وي ،دوي هم له هېواده ووځي.

خو یو شمیر نور ،خوشبینه کسان ، په دې عقیده دي، چې بهرني ځواکونه دومره ژر له افغانستان څخه نه ووځي. په د ي ورستیو کې ځیني مطبوعات هم داخبر کو ي چې دغه ځواکونه لږ تر لږه تر ۲۰۲۴ کاله پورې به دافغانستان سره نظامي مرستو ته دوام ورکو ي . لومړي خو دا چې د افغانستان ملي پولیس او ملي اردو د تربیه کولو لپاره بهرني ځواکونو ته اړتیا شته. ښاغلي رنګین دادفر سپنتا، د کرزي اعلي امنیتي مشاور په دې اړه وایي، چې د امریکا سره په دې اړه تړونونه لاسلیک شوي دي.[91]

د اقتصادي پرمختګ په موخه د یوې اوږد مهالي ستراتیژۍ د جوړولو په موخه د خلکو څخه پوښتنې شوي دي. چې ډېرو خلکو په دې اړه د یو غوځ نظر له ورکولو څخه ډډه کړې ده. خلک پهد یانتظار د یچې پهراتلونکې 2 کلونوکې امنیتي وضیعت څومره بدلون مومي . اوس مهال خلک یواځې دا هیله لري چې په هېواد کې لګ څه امنیت راشي، ځکه یوازې له دې لیاري کولای شو اقتصادي پرمختګ ته ورسیږو.

اوس ددې هېواد دلپاره د د دغو ټولو طرحه شوو انکشافي ستراتیژیو په اړه دا پوښتنه پیدا کیږي، چې آیا لومړي هګې پیدا شوي ده که چرګه؟ دا هغه بې ځوابه پوښتنه ده، چې تر اوسه هیڅ یو تحلیګر یا عالم یو قناعت بخښه ځواب نه دې ورکړی.د افغانستان دپاره دا خبره ډېره مهمه ده چې : له امنیت او ثبات نه پرته په افغانستان کې پانګه اچونه یو ستونزمن کار دې. او همدارنګه د یو بنسټونو جوړول او خلکو ته د کار پیدا کولو غیر له خصوصي پانګې اچونې څخه ناممکنه کار دې. او بیا هم پرته له امنیته زیاته پانګه اچونه یو ستونزمن کار دې. په دې مانا، چې افغانستان اوس په یوه ستونزمن اوبحراني وضعیت کې قرار لري.

تر اوسه نړیوال پانګه اچوونکي او مرسته شوي پیسې په دې نه دي توانیدلي، چې ددې لارې لاسه ته راغلي ګټې دې په دې وطن ګې خوندي شي . ډېرې دغه پیسې بیرته همغو مرسته کوونکو هېوادونو ته د بیلابیلو قرادادونو په واسط لیږدول شوي دي. چې په دې ترتیب ډېر لګ افغانان د دغو مرستو څخه برخمن شوي او یا یې ګټه پورته کړې.

د خبرواو بحثونو په پای کې مونږ د هغو څیزونو چې باید ژر تر ژره په کې بدلون رامنځته شي، یو لست جوړ کړ. البته په دغه لست کې یاد شوو مسایلو ته د ترتیب اولیکني له مخې هیڅ یو ته هم اولویت نه دې ورکول شو ي ، چون دا ټول کارونه باید په عین وخت تر سره شي : اداري فساد باید ختم شي، د افغانستان دولت باید د مرستو په اړه مسئولیت په غاړه واخلي، خصوصي سکتور سره باید مرسته وسي ،تر څو د کار زمینه مساعده شي او له دې لارې دولت مالیاتي عایدات زیات شي .تر څو په راتلونکي کې دا هېواد نور بهرنیو مرستو ته اړتیا ونلري.

برسیره پر دې ټول افغانان په دې سره موافق دې چې وروسته له دې افغانان باید په خپله مسوولیت په غاړه واخلي او په لوړو موقفونوکي او و مقاماتو کې ځانته ځاې غوره کړي. د افغانانو اوسنۍ سیاست چې د هغوي یوازې د کاري پرسونل په حیث کرا واخستل شي او د بیکارۍ کچه راټیټه شي، یوه لنډ مهاله ستراتیژي دي چې د بهرنیو قواو په وتو او د مرستو په کموالي سره به له ستر ناورین سره مخامخ شي

په خلاصه ډول ویلاې شو چې، افغانان اوس دې ته چمتو دي، تر څو د هېواد رهبري خپله په لاس کې واخلي. او خپله د هېواد اقتصاد په پښو ودروي. خو بیا هم له دوو راتلونکو کلونو څخه ډېر وخت په کار دې، تر څو پهدې اړه نوې ستراتیژۍ او مفکوې را وغوریږي . برسیره پر دې ، په دې اړه مونږ نوې نسل ته سترګې په لاره یو، هغه نسل چې د تیرو لسو کلونو په موده کې د پوهنې له نعمت څخه برخمن شوي دي .

زمونږ آخرنۍ پوښتنې ته چې د افغانستان اقتصادي وضعیت به د ۲۰۱۴ کال نه وروسته څرنګه وي، د یو ګډون کوونکي دمباحثې داخر د ځواب په شکل را اخلو چې واي : (هغه څه چې تر ۲۰۱۴ کاله پورې پیښږي ، د افغانستان د اقتصادي راتلونکی پرمختګ تعینوي یا د بهرنیو قواو اومرستو په شتون اویا نه شتون سره. )

91 Outlook Afghanistan, 21 August 2011,



**Published By:**
Friedrich-Ebert-Stiftung
Afghanistan Office
Shahr-e-Naw, Charahi Ansari
Behind Setara Hotel , Yaftali Street
Kabul, Afghanistan
info@fes-afghanistan
www.fes-afghanistan.org